# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

صوبائی اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروزجمعۃ المبارک مورخہ 19 جون 2009ء بمطابق 25 جمادی الثانی 1430ہجری سہ پہر تین بجکر تیس منٹ میں منعقد ہوا۔
جناب سپیکر، کرامت اللہ خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ۔ بِسمِ اللّٰہِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ۔

**لیس علیک ھدھم ولکن اللہ یھدی من یشاء وما تنفقوا من خیر فلانفسکم وما تنفقون الا ابتغآء وجہ اللہ وما تنفقوا منخیر یوف الیکم و انتم لا تظلمون O للفقراء الذین احصر وامی سبیل اللہ لا یستطیعون ضربافی الارض یحسبھم الجا ھل اغیآء من التعفف تعرفھم بسیمہم لا یسلون الناس الحافا وما تنفقوا من خیر فان اللہ بہ علیمO**

(ترجمہ):اے نبی ﷺ لوگوں کو ہدایت بخش دینے کی ذمہ داری تم پر نہیں ہے ہدایت تو اللہ ہی جسے چاہتا ہے بخشتا ہے اور راہ خیر میں جو مال تم لوگ خرچ کرتے ہو، وہ تمہارے اپنے لئے بھلا ہے آخر تم اسلئے تو خرچ کرتے ہو کہ اللہ کی رضامندی حاصل ہو تو جو کچھ مال تم راہ خیر میں خرچ کروگے، اس کا پورا پورا اجر تمہیں دیا جائے گا اور تمہاری حق تلفی ہر گز نہ ہو گی خاص طور پر مدد کے مستحق وہ تنگ دست لوگ ہیں جو اللہ کے کام میں ایسے گھر گئے ہیں کہ اپنی ذاتی کسب معاش کیلئے زمین میں کوئی دوڑ دھوپ نہیں کر سکتے ان کی خودداری دیکھ کر ناواقف آدمی گمان کرتا ہے کہ یہ خوشحال ہے۔ تم ان کے چہروں سے ان کی اندرونی حالت پہچان سکتے ہو مگر وہ ایسے لوگ نہیں ہیں کہ لوگوں کے پیچھے پڑ کر کچھ مانگیں ان کی اعانت میں جو کچھ مال تم خرچ کروگے وہ اللہ سے پوشیدہ نہ رہے گا۔ و آخر ودعوانا ان الحمد للہ رب العالمین۔

## اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: چند معزز اراکین کی طرف سے رخصت کی درخواستیں آئی ہیں، جن کے اسمائے گرامی ہیں: محترمہ نرگس ثمین جان صاحبہ، ایم پی اے، پورے اجلاس کیلئے، وہ باہر گئی ہیں: جناب سردار اورنگزیب نلوٹھہ صاحب، ایم پی اے، 19 جون 2009ء یعنی آج کیلئے: جناب محمد جاوید عباسی صاحب، ایم پی اے 19 جون 2009ء یعنی آج کیلئے: جناب وجیہہ الزمان صاحب، ایم پی اے، 19 جون وتا 20 جون 2009ء یعنی آج اور کل کیلئے: جناب جاوید خان ترکئی صاحب، 19 جون 2009ء یعنی آج کیلئے: جناب کشور کمار صاحب، ایم پی اے، 19 جون و 20 جون 2009ء آج اور کل کیلئے، Is it the desire of the House that the leave may be granted?

Mr. Speaker: Leave is granted.

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آڈر۔ جناب سپیکر۔۔۔۔

جناب سپیکر: جی، بی بی۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: زما دا مائیک خو لږ آن کړئ۔

جناب سپیکر: ہاں جی؟

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: زما دا مائیک خو لږ آن کړئ۔

جناب سپیکر: شازیہ اورنگزیب بی بی کا مائیک آن ہو گیا جی۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: جی مهربانی۔ جناب سپیکر، پرون په اے وی تی خیبر باندے یو لائیو پروگرام وو د شانگلے نه او هغے کښ جی یو کلے دے لیونړ زما خيال کښے ، هغے کښے جی د میر آدم کلی او د خوازه خیلے نه خلق راغلی دی څه پچیس ورځے اوشوے او هلته کښے دوئ وائی چه مخکښے یو کیمپ لګیدلے وو سرکاری نو هغه کیمپ هم سرکار د هغه ځائے نه د Relief goods د پاره Remove کړے دے۔ هغه خلق بالکل بے یار و مدد ګار هلته پراته دی۔ ډیر غریب کلے دے جی هغه خلق لګیا دی هغوی ته سپورټ ورکوی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: بی بی، بی بی، یہ۔۔۔۔۔

بیگم شازیہ اورنگزیب خان: د هغه ځائے ډی سی او ته جی چه هغه کوم فنډز او Relief goog ورکړے شوی وو۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: بی بی! یو منٹ، ایک منٹ، میری بات سنیں۔ یہ پوائنٹ آف آرڈر نہیں بنتا۔ تھوڑی دیر بعد میں آپ کو موقع دوں گا، پھر اس پہ آپ۔۔۔۔۔

محترمہ شازیہ اورنگزیب: جی ضرور موقع را کړئ ځکه چه ډیر زیات سپیشل ضروری پوائنټ دے جی۔

## سالانہ بجٹ برائے مالی سال 2009-10 پر عمومی بحث

جناب سپیکر: جی، معزز اراکین اسمبلی، چونکہ بجٹ پر بحث کیلئے زیادہ تعداد میں ممبران صاحبان نے نام جمع کروائے ہیں، لہذا میں نے صوبائی اسمبلی کے قواعد انضباط کار وطریقہ کار مجریہ 1988 کے قاعدہ 142 کے ذیلی قاعدہ 3 کے تحت بجٹ پر بحث کیلئے لیڈر آف اپوزیشن کیلئے بیس منٹ، پارلیمانی پارٹی لیڈرز کیلئے دس، دس منٹ اور تمام اراکین کیلئے پانچ منٹ کا وقت مقرر کیا ہے، لہذا آپ مقررہ وقت کے اندر بجٹ کے حوالے سے تنقیدی جائزہ پیش کر کے اپنی قیمتی تجاویز سے آگاہ کریں؛ نیز غیر ضروری بحث سے بھی اجتناب کریں اور جو معزز رکن ایک تنقیدی جائزہ پہلے پیش کر چکے ہوں تو کوشش کریں جی کہ اس کی Repetition نہ ہو۔ آپ نئی نئی تجاویز کے ساتھ آ جائیں تو حکومت کی اچھی رہنمائی میں آپ کی مدد شامل ہو جائے گی۔ اب میں جناب محمد اکرم خان درانی صاحب جو کہ ہمارے لیڈر آف اپوزیشن ہیں، کو دعوت دیتا ہوں کہ وہ بجٹ پر بحث کا آغاز اپنی افتتاحی تقریر سے کریں۔ امید ہے انشاءاللہ گورنمنٹ بنچز، وزراء صاحبان پوری طرح ان کے نوٹس لیا کریں گے۔ جی جناب اکرم خان درانی صاحب۔ کافی عرصہ ان کا تجربہ رہا ہے، انتظامی سربراہ رہ چکے ہیں صوبے کے، تو امید ہے انشاءاللہ آپ کی کافی رہنمائی ہو گی۔

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ محترم سپیکر صاحب، ستاسو ډیره مننه خو ورسره ورسره چونکه تاسو څو خبرے اوکړے چه اپوزیشن لیډر د پاره یو شل منټه او د نورو د پاره لس لس منټه نو د اسمبلئ روایات دا دی چه اپوزیشن لیډر د پاره No time limit دے که هغه هر څومره کولے شی، تاسو به کتلے وی او پارلیمانی لیډرانو له هم زما خیال دے چه څومره وخت تاسو ورکړئ نو دغه د ګورنمنټ په بهتریٔ کښے ده، دا به د حکومت د فائدے د پاره وی ځکه چه د ګورنمنټ بنچز چه څومره ملګری دی، هغه خو د دے نه خبر دی چه بجټ څنګه تیار شو او په هغے کښے څه دی خو مونږ خو پرون اوکتو او په هغے کښے د اپوزیشن د یو ملګری هم چه دا څومره پارټئ

دی، هیڅ قسم مشوره او د هغه هیڅ قسم تجویز شامل نه دے نو مونږ ته هم دلته دا موقع ده، کتاب خو جوړ شوے دے، چهاپ شوے دے خو بیا هم د اپوزیشن مناسب تجویز که ګورنمنټ احترام اوکړی نو دا به د صوبے په مفاداتو کښې وی او زۀ به هم ګورنمنټ ته دا خواست کوم، اختیار د دوئ دے، حکومت چه د چا سره وی نو هغه اختیار لری او عملی کار د هغوی په لاس کښې وی خو حکومت او اپوزیشن د ګاډی دوه پهیے دی، دا چه همیشه په یو بیلنس باندے ځی نو هلته هغه ګاډے ښه چلیږی او که چرته په دیکښے په هوا کښے هم فرق وی په ټائرونو کښے نو بیا هغه ګاډے په صحیح بیلنس باندے نه ځی نو بیا په هغے کښے مشکلات وی نو زۀ به کوشش کوم چه خپلے خبرے څومره په کم وخت کښې کولے شمه ځکه چه یوه زمونږه ورور عبدالاکبر خان صاحب پرون مهربانی راسره کړے ده چه دوئ خپلے هم خبرے ډیرے کمے کوی خو تاسو چه کوم کتابونه مونږ ته راکړی وو، هغه خو یو کمزوری سړی د خپل ځائے پورے اوړلے هم نه شو نو مونږ به په دے هال کښې یو داسے طاقتور غوندے سړے ورته کتو چه لږ مو مدد اوکړی او مونږ سره ئے یوسی۔ اوس د دے ټولو کتابونو کتل په یوه ورځ کښے، دا هم داسے عجیبه غوندے ده۔ مخکښے به دوه ورځے وے نو په هغه دوه ورځو کښې به لږ مونږ تیاری اوکړه او ټول هغه کتابونه به مو اوکتل، بیا به دلته صحیح فګرز مونږ پیش کول، په هغے کښے به غلطی نه وه خو چونکه حالات عجیبه غوندے دی، مونږ خو کوشش کوؤ چه شپه ښه تیره شی نو دا هم غنیمت دے نو بیا زمونږ کوشش وو چه که یوه ورځ مونږ بچ کړو نو کیدے شی دلته مونږ ته په هغے که هم څه فائده وی، نو د دوه ورځو په ځائے باندے هغه یوه ورځ چهټی شوه نو مونږ داسے تیاری خو نه ده کړے چه هغه مونږ ټول هر څه کتلی وے خو بیا هم پرون شپه او ورځ کښې مونږ څه لږ ډیر خپل محنت پرے کړے دے نو په هغے کښے جی وړومبئ خبره دا ده چه ګورنمنټ د طرف نه زمونږ ګران مشر، خوږ مشر رحیم داد خان بجټ پیش کړو او هغه د تقریر هغه شروعات چه وو د بسم الله نه بعد، هغه هم هغه روایتی خبرے وے چه دا نن چه مونږ ته څومره تکلیف دے، مونږ څومره په مصیبت کښې یو، مونږ ته څومره نقصانات دی، دا د تیر شوی حکومت د لاسه مونږ ته پاتے شوی دی۔ ما به په بل انداز په دے باندے خبرے کولے خو

چونکه دا د بجټ د تقریر حصه اوګرځیدله نو په هغے کښے لږ ډیر خپل وضاحت هم جائز دے۔ چونکه تیر شوے ګورنمنټ زمونږ وو خو ما ته دا معلومات نشته چه تیر شوے نګران حکومت هم وو چه زمونږه مشر د نګران حکومت خبره کوله او که زمونږه د حکومت ئے خبره کوله؟ خو د هر ګورنمنټ چه دے جی، د صوبے ترقی، د عوامو خوشحالی، هغه په ښه امن کښ ده، چه په صوبه کښ لاء اینډ آرډر مسئله ټهیک وی، امن و امان وی، ذهنی طور خلق خوشحال وی، که هغه په کور کښے وی، هم صحیح کار کوی، که په دفتر کښ هم وی نو هم صحیح کار کوی او په کارخانه کښ مزدور وی، هغه هم صحیح کار کوی، نو هغے سره د پیداوار، Growth که په ایګریکلچر کښے وی نو هم اضافه کیږی، که په انډسټریز کښے وی نو هم اضافه کیږی او که چرته زمونږ بنیادی ضرورتونه په دفترو کښ دی نو هغے کښے هم چه سړے ذهنی خوشحاله وی نو بیا د دفتر کار صحیح کولے شی او نن حالات خو جی تاسو ته معلوم دی، په هغے باندے به زۀ زیاتے خبرے نه کوم ځکه چه د ګورنمنټ خپل یو وزیر صاحب دا وائی چه څنګه حالات په بیروت کښ وو، هغه زمونږ په صوبه کښ دی نو ما ته د دے وینا ضرورت بیا نشته دے خو دا داسے یو پیغام دے بین الاقوامی دنیا ته، چه که د حکومت د یو وزیر په سټیټمنټ باندے دا لاړ شی نو بیا به دے صوبے ته څوک Investment ته تیار نه وی چه راشی، دلته به څوک تجارت ته تیار نه وی، دلته به څوک کارخانے لګولو ته تیار نه وی او دلته به څوک خپلے پیسے راوړی نه۔ که مونږ حکومت دا خبره کوؤ چه دلته بیروت جوړ دے، بیا به هر سړے کوشش کوی چه زۀ خپلے پیسے اوباسمه چرته ئے بهر ملک ته یوسمه، پنجاب ته لاړ شمه، سندھ ته لاړ شمه نو په هغے باندے زۀ زیاتے خبرے نه کوم۔ حالات، زمونږ ستاسو ټول تکلیف چه دے، زمونږ په مخکښے دے او مونږ ټول ورته پریشانه یو۔ اللّٰه ته به سوال هم کوؤ چه په مونږ باندے رحم او کړی او د دے صوبے حالات چه دی، چه هغه درست کړی خو د ګورنمنټ سره، ما تاسو ته اوویل چه بنیادی یو روزګار دے، روزګار د څه نه ملاویږی؟ هغه د انډسټریز نه ملاویږی۔ ګورنمنټ به په خپلو ادارو کښے څومره خلقو ته روزګار ورکړی؟ چه چرته کارخانے وی، چرته صنعت وی نو هلته یو بهترین روزګار هم د حکومت مدد کوی۔ چه کومه

ذمه داری د حکومت ده، هغے نه علاوه د کارخانے مالک چه دے، هغه ذمه داری ورسره پورا کوی او په خپل انډسټریز کښے مکمل خلقو ته خپل روزګار ورکوی۔ دویمه خبره جی دا ده چه تاجران دی، دکانداران دی، د هغوی سره په یو دکان او په خپل ځائے کښے په تجارت کښے بے شماره خلق په روزګار وی۔ که چرته تاجرانو ته سهولت وی نو د حکومت سره نیم بوجھ چه دے، هغه تاجرانو اغستے وی۔ دویمه خبره دا ده چه زمونږ ایګریکلچر دے، که چرته په صوبه کښے ایګریکلچر ټهیک وی، زمینداره ټهیک وی نو بیا د حکومت بلا خلق په روزګار باندے په زمکو کښے، په ایګریکلچر کښ وی، حکومت نه بوجھ کم شوے وی او بیا ډیر اهم شے ټورازم دے۔ چه چرته سیاحت وی، چرته ټورازم وی، څوک راځی نو هلته هم بے شمار هوټلونو کښ خلق په روزګار وی۔ دا پولټری فارمونه چلیږی، خلق آباد وی نو زمونږ دلته په صوبه کښ افسوس سره سیاحت تباه دے، انډسټریز تباه ده، تجارت تباه دے، زمینداری تباه ده او چه دا تباه وی نو بیا تهٔ هغے ته دا نه شے وئیلے۔ که اوګورے پورا زمونږ مالاکنډ ډویژن چه زمونږ ډیر ښکلے وطن، داسے ښکلے وطن چه د کراچئ نه به سړے راخلاص وو، هغه به سوات ته تلو، هغه به بحرین ته تلو، هغه به کالام ته تلو، هغه نن تباهی ته راغلے دے او داسے ځائے ته راغلے دے چه هلته په اربونو نقصان شوے دے۔ زمونږ د مالاکنډ ډویژن په لکهونو کښ نه دے، په کروړونو کښے نه دے، هلته چه کوم نقصان دے، هغه جی په اربونو کښے دے۔ هلته جی باغات تباه دی، هلته سیاحت تباه دے او هلته زمنیداری تباه ده او بالکل داسے دے چه وران ویجاړ دے او چرته چه چا باغ خرخ کړے دے، منډئ والا پیسے ورکړی دی په ایډوانس کښے، هغه فروټ چه دی، هغه تباه کیږی خو هغه زمکے ته سړے نه شی تلے، هغه باغ ته سړے نه شی تلے نو د دے خلقو دومره نقصانات شوی دی۔ دومره لویه تباهی ده چه هغه دا مونږ چه څه ورکوؤ، په دے باندے د هغے داسے ده لکه مالګه چه چرته اوړو ته اچوے، د دے نه زیاته نه ده۔ همیشه ګورنمنټ چه څوک کوی نو د ګورنمنټ خپله یو حکمت عملی وی، د هر یو جماعت، د هرے پارټئ، د هر حکومت۔ ځنے حکومتونه به داسے وی چه هغه به د طاقت په بل بوتے او په زور باندے د حکومت کولو سوچ لری۔ ځنے به داسے وی چه هغه به د جرګے د

مذاکراتو د عمل په لاره کار کول غواړی او چرته هم چه د طاقت استعمال شوے دے ، د هغے نتائج جی ډیر خطرناک وی، هغه ډیر سنګین وی او هغه داسے وی چه د کلونو کلونو پورے د هغے نقصانات ځائے په ځائے باندے رااوځی نو مونږ همیشه خبره کوؤ، د سوال کوؤ، د جرګے کوؤ، د منت کوؤ چه حکومت د د جرګے د منت او د سوال د هغے طریقے نه خپل کار اخلی او بیا به د هغے حل رااوځی۔ اوس جی سوات خو وو خو زمونږ د داسے یو ضلعے خبره زۀ کومه، ضلع بنوں چه په هغے کښے اغواء نشته، په هغے کښے شوکه نشته، په هغے کښے ډاکه نشته او هلته د ګورنمنټ په سطح نه، مونږ په خپله حکمت عملئ سره هغه هور چه زمونږ په بارډر باندے وو، هغه مونږ مړ کړے دے او هلته امن دے او د ایف آر خلقو سره زمونږ خپلے جرګے وے۔ اوس مالاکنډ کښې خو مونږ لا په آرام کړے نه دے ، هلته خو مونږ هغه هور مړ کړے نه دے او مونږ هور راوړو سدرن ډسټرکټس ته او نن زما جانی خیل چه دلته ئے مونږ ته یو ډیر ځوان ایم پی اے راکړے دے ، عدنان وزیر صاحب، د هغه کور دے ، د هغه کلے دے ، د هغه ځائے دے چه هغه نن لوټے لوټے دے۔ هغه ټوله جانی خیل ایریا چه ده ، هغه لوټے لوټے ده ، کورونه وران دی او د جانی خیل او د بنوں بازار په مینځ کښې تیس کلو میټر فاصله ده ، تیس کلومیټر لرے هلته آپریشن شروع دے او سحر نه زمونږ زنانه او ټوله شپه ورځ هلته بچی سکولونو ته نه شی تلے ، بازار کښے کرفیو ده۔ ما ته دا حکمت عملی، پته نه لګی چه جنګ دیرش کلومیټره لرے دے او بازار باندے کرفیو ده ، هلته خلق نه شی راوتے او بازار بند دے۔ دا خو داسے مثال دے چه د ورسک په اخوا باندے تقریباً پچیس تیس کلومیټر راځی زمونږ میچنئ او دا نهر چه دے ، دا تقریباً تیس کلومیټر، پچیس راځی، ستا کلی سره نزدے دے ، په دے باندے جنګ وو خو په پشاور باندے خو چرته هم کرفیو نه وه۔ دلته خو په تیس کلومیټر کښې چا دا ضرورت نه کړو محسوس نو زما به دا سوال وی چه آخر تیس کلومیټر د بنوں بازار نه لرے یو جنګ شروع دے او د دے څه ضرورت شو، څه وجه ده چه په هغه بازار باندے کرفیو ده؟ او بیا په دیکښے ما لاره نه ده پریښے د روغے۔ ما مولانا فضل الرحمان صاحب ته ریکویسټ کړے دے ، د هغه پریذیډنټ صاحب سره خبره شوے ده۔ بیا ما بذات خود چیف منسټر

صاحب ته ټیلیفون کړے دے ، چیف منسټر صاحب، دا ستا د ګورنمنټ که څه وی چه ما نه ئے اوغواړئ، زهٔ تا سره تعاون کولو ته تیار یمه۔ بنوں کښ په جانی خیل کښے تاسو څه غواړئ؟ که تهٔ ما ته اوښائے چه زهٔ دا غواړمه، زهٔ به جرګه اوکړمه، دا ستا خبره به زهٔ په جرګه باندے حل کړمه۔ وزیر اعلیٰ صاحب ما ته وئیل چه زهٔ اسلام آباد ته ځمه چه زهٔ واپس راشم بیا به تا سره خبره اوکړمه۔ زهٔ د جواب منتظر ناست یمه خو ما ته اوسه پورے لا جواب ملاؤ شوے نه دے۔ بیا عجیبه صورتحال جی بل دے۔ د مالاکنډ متاثرینو ته چه څوک کور ورکړی، څوک پناه ورکړی، بیا مونږه وایو چه د پښتنو روایات چه دی، بحال دی، مونږ په لکهونو په خپلو کورونو کښ ځائے کړی دی، زهٔ منم دا د پښتنو روایات دی چه د بل چا خور، د هغه مور، د هغه لور ته به په هغه نظر ګورے چه د خپل کور زنانه ته ګورے، دا زمونږ مسلمانی هم ده، د پښتو زمونږ هغه رواج هم دے۔ اوس چه څوک د مالاکنډ متاثرینو ته پناه ورکړی، هغه ته انعام ورکوی او زما د جانی خیل متاثرینو ته چه څوک پناه ورکړی، هغه سړے اونیسی، هغه خلق هم اونیسی۔ چه اوس هغه متاثرین جانی خیل په لکهونو باندے راروان دی، هغوی ته چه په بنوں کښ څوک کور ورکوی، د هغه کور سړے اونیسی او متاثرین نیسی او تاسو به چرته نه وی کتلے جی، دا خو به مو ضرور په اخباراتو کښ کتلے وی چه هلته دومره کسان مړه شو، د آرمی والا Spokesman اووائی، تاسو به دا لیدلے وی چه دومره نقصان او شو خو دا به مو نه وی لیدلی چه یوه بورئ اوړه چا ورکړی دی؟ دا به مو نه وی لیدلی چه یوه بورئ اوړه نه، یو ټین ډبے چاغوړی ورکړی دی؟ دا به مو نه وی لیدلی چه په لکهونو خلق هلته بے کوره شول، هغے ته چا بسکټ راوړی دی؟ او ناروا خبره دا ده چه څوک پناه ورکوی، څوک ځائے ورکوی او ما ته چه څه معلومات دی، هغه به په حقیقت کښ وی یا نه وی چه زمونږه د ایم پی اے صاحب په بازار کښ کور دے ، د هغه کور کښ چه کومو جانی خیلو پناه اغستے وه، هغه هم ترینه ویستلے شوے دی چه ته ئے بازار کښے نه شے ساتلے۔ اوس مونږ خو جی غواړو چه دلته امن راشی۔ بنوں کښ دا حال دے ، کوهاټ ډویژن پورا آرمی ته حواله دے ، په هنګو کښے مولانا محمد امین چه یو ښه عالم وو، شهید کیړی چه د هغه خلاف هیڅ نشته دے۔ زما د پارټئ امیر

د هنګو، د هغه په کور باندے، مدرسه نه جی، د کلی مینځ کښے کور دے، هغه کور باندے جی د جیټ طیارے نه بمباری کیږی او شپږ ماشومان ورکوټی، د شپږ کالو، اووه کالو، آته کالو، دا مری، دین آزار صاحب ئے نامه ده او چه مونږ تپوس اوکړو چه دا په غلطئ باندے اوشوه؟ آیا دا جیټ طیاره چه هنګو ته راغله، دا په غلطی راغلے ده؟ نو نه څوک دا راته وائی چه غلطی ده او نه وائی چه جرم شوے دے نو مونږ ته دا پته نه لګی که چرته غلطی وی خو غلطی خو سړے اومنی نو بیا وطن دے جی، دغسے غلطی په وطن کښ راځی، سړے برداشت کوی او که چرته غلطی نه وی نو بیا اووائی چه یره دا سړے مجرم وو۔ که چرته په دین آزار صاحب باندے دا ثابته شی چه د 107دفعه په دے ټول عمر کښ پرے لګیدلے ده بیا ما ته راشئ او یو ښه عالم دین دے او د یو پارټئ صدر دے او د یو سیاسی تنظیم سره چه هغه مسلح وی، هغے سره د هغه هیڅ قسم تعلق نشته۔ د یو داسے تنظیم سره ئے داسے تعلق نشته چه هغه د اسلحے په زور باندے کار کوی۔ مونږ خو جمهوری خلق یو، مونږ خو دلته د ووټ په ذریعه باندے راغلی یو، د جمهوریت په نامه باندے راغلی یو۔ اوس که د جمهوری خلقو په کورونو باندے هم داسے بمباری شروع شی نو زما خیال دے په دے ناستو خلقو کښے به څوک هم پاتے نه شی، نو زۀ ډیر په ادب سره، په دے باندے ما دا څو خبرے ځکه کولے چه زمونږ انډسټری که تۀ ډیرے پیسے ورته کیږدے، انډسټری کښے به څه کوے؟ ارباب ایوب جان صاحب ښه زوړ زمونږ نه زیات تجربه کار زمونږ یو مشر دے خو که دے په ایګریکلچر کښے زیاتے پیسے کیږدی چه خرچ کولے ئے نه شی نو بیا ئے څه فائده ده؟ که چرته زمونږ ایریګیشن منسټر په ایریګیشن کښ زیاتے پیسے کیږدی او انجینیئر چینل ته نه شی تلے، هلته پی سی ون نه شی جوړولے نو د ایریګیشن څه فائده ده چه پیسے ایږدی؟ پیسے خو پسته پکار دی چه زما ایکسیئن بهر وتلے شی، زما سب انجینیئر بهر وتلے شی، زما ایس ډی او بهر تلے شی، هغه پی سی ون هم جوړولے شی، هغه رپورټ هم کولے شی او هغه خپل آزادئ سره، اوس په ټوله صوبه کښ په یو ځائے کښ هم عمله چه ده، هغه بهر نه شی وتے نو چه نه شی وتے نو تعمیر به څه کیږی؟ نو دا په دے بنیاد باندے مونږه هم پینځه کاله حکومت کړے دے جی، تکلیفات هم راغلے وو او برفباری هم

راغلے وه، فلډ هم راغلے وو، زلزله هم راغلے وه، دا صحافیان ناست دی، دلته دا ټول مشران ناست دی چه که په پینځه کاله کښے یو سړے په روډ راوتے وی چه ما ته شے نه دے ملاؤ شوے، هغه که په برفباریٔ کښے وی، هغه که په فلډ کښے وی او که هغه په زلزله کښے وی، مینجمنټ په ټهیک طریقے باندے روان وو او چه کوم ځائے کښے به تکلیف اوشو، مونږ به ئے په مینځ کښ ولاړ وو۔ که هلته به فلډ وو، مونږ به په اوبو کښ ولاړ وو۔ که هلته به چرته زلزله وه، پونے نو بجے زلزله اوشوه، پونے گیاره بجے مونږ هلته په بالاکوټ کښے حاضر وو نو د گورنمنټ نمائندگان چه چرته هلته وی نو بیا هغے سره هغه هومره، په دے بنیاد باندے مونږ پینځه کاله ښه محنت کړے دے او کوشش مو کړے دے چه په دے صوبه کښے ډویلپمنټل کارونه او شی۔ زمونږ سره زوړ زمونږ دوستان دلته وزیران هم شته، ایم پی ایز هم شته او انشاءالله پینځه کاله کښے مونږ ته د فنډ کمی نه ده راغلے۔ پینځه کاله دومره فنډونه وو، تاسو خبر یئ چه چرته به دوئ د خلے نه خبره ویسته، مونږ به اعلان ورته کولو۔ فنډونه ټهیک ټهیک روان وو، کارونه وو او بیا جی د صوبے د طرف نه نه، زهٔ به څو هغه سکیمونه، منصوبے او څه پراجیکټس چه مونږ په حکمت عملئ باندے د وفاقی گورنمنټ نه منظور کړی دی، ستاسو مخے ته راولم او بیا به زهٔ د موجوده حکومت نه هم، دا د اولیکی چه دوئ د وفاق نه کوم نوے پراجیکټ راوړے دے چه د صوبے بهتری پرے باندے کیږی؟ هغه خپلے کومے منصوبے دی، چه هغه دوئ نوے راوړے وی؟ زهٔ خو دے باندے زیاته شکریه ادا کوم چه اسی فیصد فنډ چه دے، هغه زړو منصوبو ته روان دے، دا هم د دوئ زهٔ ښیگړه منم خو ورسره ورسره د ډونرز هم ښیگړه منم چه هغوی ورته وائی چه زړے به Complete کوئ (تالیاں) ځکه چه که چرته زړے تهٔ نه Complete کوے نو بیا نوے ته پیسے هم نه ملاویږی خو د گورنمنټ هم زهٔ شکریه ادا کوم چه زړے منصوبے ټهیک طریقے سره روانے دی۔ دیکښے جی مونږ په 50% باندے چه 50% به د صوبے وو او 50% فنډ به د مرکز وو، مونږ به لاړو هلته به مو خپله حکمت عملی وه، نوشهره هسپتال مونږ په 50% باندے د مرکز نه راوړے دے او انشاءالله هلته به یو ښکلے هسپتال، اوس چه څومره کار به شوے وی، روان به وی، Complete کیږی به۔ په سیدو هسپتال

کالج ډيرھ ارب روپئ مونږ د مرکزی حکومت نه راوړے وے او په % 50 باندے مونږ هلته دا منظوری ورکړے وه۔ گومل میډکل کالج بلډنګ د پاره %50 زمونږ د فرنټیئر گورنمنټ او %50 د اسلام آباد د وفاقی گورنمنټ دی۔ پشاور کارډیالوجی سنټر مونږه په %50 باندے راوړے دے ، %50 زمونږ دی او %50 د مرکزی گورنمنټ دی۔ خلیفه گل نواز کمپلکس بنوں جی په %50 باندے ، دا د دو ارب روپئ تقریباً سکیم دے ، ایک ارب وفاقی گورنمنټ ورکړے دی او ایک ارب صوبائی گورنمنټ ورکړے دی او کډنی سنټر، برن سنټر، کینسر هسپتال سوات مونږه مکمل د وفاقی گورنمنټ نه راوړی دی۔ کینسر هسپتال ډی آئی خان، اټامک انرجی نه مے راوړے وو په ډی آئی خان کښ او کینسر هسپتال بنوں مونږه د وفاقی گورنمنټ نه راوړے وو د اټامک انرجی نه۔ خیبر میډیکل یونیورسټی په %50 باندے، خواتین یونیورسټی پشاور، گرلز میډیکل کالج پشاور، بنوں سائنس ټیکنالوجی یونیورسټی، کوهاټ سائنس ټیکنالوجی یونیورسټی او په پیښور کښے ډ دوه یونیورسټو د پاره مونږ ډیر محنت کړے وو، یوه انجینئرنګ یونیورسټی، جدید انجنیئرنګ یونیورسټی او زما سره د ایف آر پی پولیس زمکه وه پیښور کښے د ماموں خټکی سره د دریاب په غاړه، د هغے انتقال شوے دے خو زمونږه گورنمنټ ختم شو، په هغے یونیورسټئ باندے کار شروع نه شو نو زهٔ به دوئ ته خواست کوم چه د زمکے انتقال مونږه کړے دے ، چه د پریذیډنټ او پرائم منسټر سره په هغے باندے خبره اوشی چه انتقال شوے دے خو چه کار پرے شروع شی۔ دویمه زمونږه لاء کالج د کله نه جوړ شوے دے ، لاء یونیورسټی نشته، لاء یونیورسټی مونږه منظوره کړه او په جلوزئ کښے زمکه ورته انتقال کړه، زهٔ به د گورنمنټ ته دا ریکویسټ کوم چه دوئ د هغوی سره رابطه اوکړی چه په جلوزئ کښے زمونږه سره زمکه مفته ده او په لاء یونیورسټئ باندے هم عملی طور سره کار شروع شی۔ زهٔ به د ځو پراجکټس خبره اوکړم۔ پراونشل خو چه زمونږه ځومره آمدن دے نو هغه تاسو ته معلوم دے ، مونږ بارانی پراجیکټ شروع کړو، سی آئی پی II مو شروع کړو، آر ایس ډی پی روډ پروگرام وو،آر ډبلیو ایس ایس ډیره پروگرام او ایم آر ډی پی چه کله حکومت بندوله نو ما ترینه یو کال بیا د سوات او ملاکنډ ټول پروگرام له توسیع

واخسته۔ اوس دا ټول پروګرامونه بند شو۔ سی آئی پی II بند ده، ډیره بند شو، آر ایس ډی پی بند دے، آر ډبلیو ایس ایس بندولو کښے دے او بیا غټه خبره ده، زمونږه په حکومت کښے چه واپډا یو داسے هاتهی دے چه هغه ځان ته وائی چه زما نه زورآور نشته، وفاقی حکومت پرے باندے دے، بیا مونږ د بجلئ د منافعے دپاره یو ثالثی ټریبونل جوړ کړو چه په هغے کښے دوه ثالثان زمونږ، دوه د واپډے او پینل چیئرمین ریټائرډ جسټس اجمل خان وو او هغوی فیصله اوکړه چه ایک سو دس ارب روپئ بقایاجات او د چه ارب نه به لاړے شی دا چوبیس ارب ته سالانه، په هغے وخت کښے په مونږ باندے زیات تنقید هم اوشو حالانکه دلته زمونږ زاړه ممبران ناست دی، مونږ په هغے کښے جرګه جوړه کړے وه۔ په هغے کښے د پیپلیزپارټئ نه عبدالاکبر خان مونږه شامل کړے وو، د دوئ تجویز به مواغستلو۔ په هغے کښے الیاس بلور وو، په هغے کښے د مسلم لیګ (ن) نه زمونږه ایکس چیف منسټر صاحب وو، ایبټ آباد والا مهتاب عباسی صاحب او بیګم فخر زمان چه هغه د قاف لیګ نه وه، نور هم په هغے کښے تقریباً مونږ ټولے پارټیانے ځائے کړے وے۔ دوئ به مشوره راکوله او مونږه به کار کولو۔ چه مونږه ته به ضرورت شو، دوئ سره به مو مشوره اوکړه۔ چه کله مونږه دا منظوری واغسته نو بیا سیاسی پارټیانو وئیل چه پینځه سوه اربه دی، دا خو کمے دی۔ ما ورته وئیل چه زما په مته کښے به دومره زور وی چه ایک سو دس درکولے شمه نو تا ته د خدائے حکومت درکړی نو پینځه سوه راوړه، زۀ درسره یمه۔ زما په مته کښ دومره زور وو چه ما ایک سو دس ارب راوستے شوے، د دے نه به زما په مته کښے نور زور نه وی خو که ته نور راوړے نو بیا زۀ ستا سره یمه او هغه خبره زۀ بیا نه کومه چه په چه بلین باندے کوم ایګریمنټ شوے دے، هغه د صوبے په نقصان کښ ده۔ ما د فنانس نه د هغے لیټر اغستے دے، زما سره په خپل پرسنل فائل کښے دے چه هغه وخت کښے چه د چه بلین خبره کیدله نو چا څه سمجهوته کړے ده د هغه مرکز سره، د واپډه سره خو هغه زۀ په اخبار نه راولم ځکه چه زما د صوبے نقصان دے۔ اوس هغه خبره خو پریږده، ما ته خو بله ورځ د سینیئر منسټر په خطاب باندے افسوس راغے۔ یوه خو دا خبره وه چه زۀ به د دے اعتراف اوکړم چه صحیح خبره ئے کړے ده، دروغ ئے نه دی وئیلی۔ د دے به ئے

ستائنه اوکړم ګنی داخو د حکومت دپاره مرګ دے چه چهٔ ارب کښے هم مونږ ته صرف ملاؤ دی تین اعشاریه پانچ ارب۔ نو تین اعشاریه پانچ ارب، ما ته چهٔ ارب، دا خو په یوګورنمنټ کښے نه دی شوی۔ دا پیسے خو به مونږه اپریل ته نه پریښودلے ځکه چه بیا به خرچ کیدے نه شولے۔ دا خو به مونږه راوړلے ډیرے مخکښے چه خرچ هم شی او بیا اوس مونږ ته په زړو چهٔ ارب کښے ، نو که چرته مونږه دا خپلے روټین پیسے د واپډه نه نه شو اغستے ، زمونږه دومره کمزوری وی نو بیا به مونږه هغه پانچ ارب څنګه اخلو؟ بیا به مونږه سو یونټ بجلی څنګه مفته کوؤ؟ بیا به مونږ نور غټے غټے دعوے څنګه کوؤ؟ نو دا په دے بنیاد باندے دی چه زمونږه حکمت عملی وه او په هغے باندے مونږ، دا مے ایمان دے چه جمهوری طریقے سره مونږ وفاقی حکومت سره لار کتلے ده او چه کله هم هغوی مونږ ته په لاندے نظر کتلی دی، جمالی صاحب زمونږه پرائم منسټر وو، د ایکنک میټنګ وواو زما د صوبے پکښے څه نه راتلل او نه ئے کول نو ما واک آؤټ اوکړو، راغلمه او بیا ئے سبا ته راپسے ټیلیفون اوکړو چه راشه تا ته مے جدا ټائم ایښودے دے او بیا مے هغه ټولے خبرے پرے اومنلے۔ نو چه کله مونږ د هغوی سره ضرورت وو، بیا به آخری حد پورے راتلو نو اوس که چرته مونږه په هغه خپلو پیسو باندے هم خاموشه کیږواو مونږه وایو چه وفاقی حکومت او نن خو زمونږه حکومت دے ، مونږه تاسو سره په وفاق کښې شامل یو، زما په زړه کښے دا خبره وه چه دلته دا حکومت جوړ شو او په وفاق کښې د اے این پی، مسلم لیګ (ن)، جمیعت العلمائے الاسلام او پیپلز پارټئ حکومت جوړ شو نو ما وئیل چه مونږه ته د خدائے په فضل دا پیسے خو ایک سو دس هم ملاؤ شوے او اوس به مونږه هغه پانچ سو ارب هم په شریکه رااوباسو او زما دا طمع وه چه د صوبائی حکومت مشر به ما ته هم ټیلیفون کوی چه راشه چه کښینو ، هغه به سکندر خان ته هم ټیلیفون کوی چه راځه، آفتاب خان په اسلام کښے دے ، مولانا فضل الرحمان صاحب په اسلام آباد کښے دے او پیر صابر شاه صاحب ته به هم ټیلیفون کوی او لودهی صاحب ته به هم ټیلیفون کوی چه راځئ چه کښینو چه یوه جرګه جوړه کړو۔ یو به آفتاب خان شی، صوبے نه به سکندر خان شی، هلته به چودهری صاحب شی، دلته نه به لودهی صاحب شی، عبدالاکبر خان به شی او هلته به

مونږه پرائم منسټر ته ځو او سپیکر صاحب به شي او پیر صابر شاه صاحب به شي، نواز شریف به رانیسو او مونږ به دا جرګه صدر او وزیر اعظم ته ورولو۔ نو چه دا جرګه مونږه وروستے وے نو هغه به څوک ووچه دے کسانو ته انکار کوی؟ دے کسانو ته انکار کول، دا یو ډیر غټ زړه به ئے غوښتو چه دے مشرانو ته انکار کولے خو مونږه همیشه که معاهده کولو نو هغے کښے هم کریډټ اخلو چه بل څوک شامل نه کړو نو هغه ناکامه شي۔ که چرته مونږه په معاهده کښ نور څوک شامل کړو نو مونږ ستا ګواهی کوؤ کنه۔ مونږه به ستا ملګری یو چه څوک غلط دے او څوک ټهیک دے، څوک درست دے او څوک غلط دے او که په جرګه کښے مے بوځے، په حکومت کښے خو هلته په اسلام آباد کښے به مونږ هم ورسره دا کړی وو۔ نو دلته نه صرف د پیپلیز پارټئ او د اے این پی جرګه لاړه او د اسفندیار خان په مشرئ کښے د پرائم منسټر او صدر سره ملاؤ شوله او بیا د مایوسئ خبره خو دا ده چه زما رحیم داد خان کومه اوکړه۔ وائیل ئے چه دوه میاشتے ئے راکړے وے خو نهه میاشتے تیرے دی، څوک مے تپوس نه کوی۔ (تالیاں) دوه میاشتے ئے راکړے وے، نهه میاشتے تیرے دی خو څوک مے تپوس نه کوی او دومره بے بسئ باندے، زۀ خو نور څه نه شم کولے خو کمزوری زړه سړے یمه چه ژړا خامخا راځی چه دومره څوک بے بسه اووینمه۔ د بجټ تقریر په دے صفحه نمبر 3 کښے زمونږ سینیئر منسټر صاحب د وزیر اعظم صاحب او صدر شکریه ادا کړے ده او د څه ئے ادا کړے ده؟ وائی چه یو ارب روپئ ئے اړتیس لاکھ خلقو ته راکړی دی۔ زما په اربونو باغونه تباه شول، زما زمکے تباه دی، زما کورونه ملیامیټ دی، زما ټول بازارونه مات دی او زۀ په یو ارب روپئ باندے شکریه ادا کوم؟ او زما د پښتون په وینه، د دهشتګردئ په نامه باندے ټول پاکستان ته پانچ بلین ډالر یو امداد دے او ایک سو چوبیس ارب یورو یو امداد دے او ایک سو چوبیس یورو کښے او په ډالرو کښے ما ته پنځوس اربه پاکستانی روپئ راکوی او د یو ارب ډالرونه جوړیږی اتیا او د یو ارب یورو نه جوړیږی زما خیال دے چه ایک سو چالیس دی که ایک سو پندره دی، نو ما ته په پانچ ارب ډالرو کښے یو ارب روپئ راکوی او زۀ دلته ډسک ټکومه چه ډیره مهربانی۔ (تالیاں) ما سره ئے ډیره ښګړه کړے ده

او بیا په بله صفحه باندے ، په صفحه 6 باندے ، ګله زۀ نه کوم، په صفحه 6 په بجټ تقریر کښے ګله کوم چه ما ته د دوه میاشتے راکړے وے او نهه د راباندے تیرے کړے ، تپوس مے نه کوے او په صفحه 6 باندے بیا لاندے ګله کومه چه چهـ ارب روپۍ مے درسره وے خو تین اعشاریه پانچ د راکړے دی، نورے ولے نه راکوے ؟ شکریه مونږه د څه ادا کړو؟ دا څومره پیسے چه راځی، دا زمونږه د دے صوبے د خلقو په وینه باندے راځی او دا به خرچ کیږی چرته؟ دا به خرچ کیږی هلته یا په پنجاب کښے یا په اسلام آباد کښے او عجیبه خبره بله ده چه دلته زمونږه په زخمونو باندے نورے هم مالګے دوړوی۔ هغه د پنجاب ګورنمنټ کالا باغ ډیم ته پیسے ایږدی، ملاکنډ مے تباه شو، نوښار، پیښور، چارسده، مردان، صوابی مے په اوبو کښ ډوبوی۔ مرکزی حکومت اعلان کوی چه کالاباغ ډیم به نه جوړیږی او پنجاب حکومت په بجټ کښ پیسے ایږدی چه مونږ په داجوړوؤ۔ مونږ ورته وایو چه تۀ کالاباغ ډیم نه شے جوړولے ، مونږ ئے نه پریږدو، مونږه د کالاباغ ډیم مخالف یو۔ مونږه کالا باغ ډیم جوړولو ته نه ورکوؤ، مونږه مزید صوبه د بل چا د تباهئ دپاره نه ورکوؤ۔ (تالیاں) او بله خبره عجیبه غوندے داده چه که د اسلام آباد سرے زما د نقصاناتو نه نه وی خبر چه په ملاکنډ کښ څومره نقصانات دی خو زمونږ صوبائی حکومت والا خو تلی دی او لیدلی ئے دی، دوه ارب روپۍ په دے بجټ کښ آئی ډی پیز پورے خنده ده۔ تاسو په اړتیس لکهه خلقو باندے دوه اربه روپۍ تقسیم کړے ، زما خیال دے ، ما Calculation کړے دے ، پانچ سو روپۍ راځی په کور۔ دوه اربه روپۍ چه په اړتیس لاکهـ خلقو باندے تۀ تقسیم کړے نو د پانچ سو روپۍ نه هم تقریباً کمے راځی نو مونږ د بل چا نه څه ګله اوکړو؟ په دے وخت کښ خو پکار دی چه د د ے خلقو چه څنګه په کورونو کښے خلق میلمستیا کوی چه داسے ئے حکومت هم اوکړی او بیا وفاقی حکومت ما ته پنځوس اربه ایښودے دی، پنځوس اربه چه تۀ تقسیم کړے په اړتیس لاکهـ خلقو باندے ، نو مونږه سره د د پچیس هزار وعده کړے ده نو هغه هم نه پوره کوی نو بیا به مونږه څنګه په دے بنیاد باندے دا خپل خلق خوشحالوؤ؟ دلته جی په ملاکنډ کښ مونږ یوبجلی پیدا کړے وه چه ملاکنډ تهری ورته وئیلی شی، ما په بجټ تقریر کښے د هغے څه ذکر نه واوریدو، د

هغے نه اکاسی میگاواټ بجلی پیدا کیده، چه هغه چالو شوے ده او که بند ده او د هغوی سره مونږه دا فیصله کړے وه چه ټول کلاس فور نوکرئ او Non technical jobs به د ملاکنډ خلقو ته ورکوی خو مونږ ته د حکومت دا اوښائی چه ملاکنډ تهری شروع شوکه نه دے شروع شوے؟ د بجلئ نه ځومره آمدن راځی؟ د ملاکنډ خلقوته هغه جاب ملاؤ شو او که نه شو ملاؤ؟ بله خبره مے دلته اولیده په بجټ تقریر کښے، وائی چه مونږ په بجلئ باندے، په تیل باندے او په گیس باندے پینځه فیصده ورکوؤ، دا زمونږه شاه جی خان ناست دے، عبدالاکبر خان ناست دے، دا د دے ایوان حصه وه، سکندر خان ناست دے، لودهی صاحب ناست دے، دا په 2006-07 کښے زمونږه فیصله وه او دلته زمافنانس منسټر Announce کړے ده او مونږه پرے باندے آرډرز کړی دی او بیا دا پارټیانو، ځنے چه دا حکومت کښے دی، د دے مشران چه به کرک ته لاړل، کوهاټ ته به لاړل، بیا به ئے وئیل چه پینځه فیصده هم پیسے وی؟ که زمونږه حکومت راغے نو مونږ به پچاس فیصد درکوؤ (*تالیاں*) د هغے اخبارات زما سره شته او دا بجټ تقریر هم ما سره شته خو اوس پانچ فیصد ورکوی چه پکار خو دا دی چه که واقعی د هغے وخت دوئ خبره درسته وه او زمونږه غلطه وه چه پچاس ورکړی خو د یوے خبرے وضاحت د حکومت نه غواړمه چه ما په تماکو باندے هم ورکړے وه مردان ته، چارسدے ته، صوابئ ته، مانسهرے ته او بونیر ته خو په دے بجټ تقریر کښ تماکو نشته۔ حکومت د د دے وضاحت اوکړی چه آیا دوئ هغه فیصله واپس کړے خو نه ده۔ مونږ خو په بجلئ باندے ورکړے وه، په تیل او په گیس باندے ورکړے وه او تماکو باندے ورکړے وه خو د دوئ په بجټ تقریر کښ تماکو نشته، تاسو د بجټ سپیچ لږ اوگورئ، د دے وضاحت د اوکړی چه په تماکو ئے ورکوی او که زمونږه فیصله ئے واپس کړے ده؟ اوس به زهٔ راشمه جی اے ډی پی ته، نور هم ډیر څیزونه راسره دی خو په ایمان زړه مے هم کارنه کوی، مونږ خو د زړه دوائی خورو او ټهیک هم نه یو۔ زهٔ تاسو ته یوه جائزه پیش کومه، دا خپل بجټ 2007-08 او بیا ددوئ 2008-09 او بیا ددے حکومت 2009-10، دیکښے ما صحافیانو ته هم کاپیانے راوړے دی، دا به زهٔ صحافیانو ته اولیږم، د هغوی د پاره کاپی ده او د ممبرانو د پاره هم زهٔ ټولو ته

کاپیانے ورکوم۔ د گورنمنټ دا خبره نه ده چه ما پینځه کروړه اضافه اوکړه، بجټ چه دے ما پینځه کروړه زیات کړو، داد بجټ طریقه کار نه دے، دے سره څه فائده نشته دے۔ ته به Increase څومره کوے؟ چه دابجټ دے، د دے نه به مخکښے څومره ځے؟ لکه زهٔ په increase %28 باندے روان وومه په 08-2007 کښے او بیا د دوئ حکومت کښے د تیر کال بجټ راغے نو دا زهٔ یو یو سبجیکټ تاسو ته ښائم۔ ایجوکیشن، دا دے ایلمنټری اینډ سیکنډری ایجوکیشن، دے کښے، تیربجټ د دئ حکومت وو، increase %18 او موجوده راغلو د اتهاره نه دس ته، تیر اتهاره وو او اوس شاته راغلو دس ته، بیا په ہائر ایجوکیشن کښے زما ټارګټ وو increase %44 په 08-2007او09-2008 کښے، دوئ راغلل دو ته، %2 ته او بیا اوس لاړل دس ته، دو ته راغلی وو، دو نه دس ته لاړل۔ بیا زما په هیلتھ کښ Increase وو 67، په اخبارونو هم راغلی وو او دوئ ته ما تیر ځل هم کاپیانے ورکړے وے، تیر ځل د دوئ وو آتھ او اوس ئے دے دس، %10۔ په واټرسپلائی اینډ سینیټیشن کښے زمونږ Increase وو172 او د دوئ تیر ځل دس وو، دے ځل ئے 44 دے۔ په روډز کښے زمونږه Increaseوو49، د دوئ تیر کال وو تیره او دے کال دے پندره، نو واټر کښے زمونږ وو 63، پروسکال د دوئ وو پانچ او دے کال دے دس۔ په پاور کښے زمونږ وو31، د دوئ دے دس او دوئ ته لږ دی او په ایګلر کلچر کښے زمونږ وو 31، پروسکال ارباب وو 122، ما دلته دوئ ته خراج تحسین پیش کړے وو اودا ځل ئے راغلے دے ګیاره ته، بیا هم خیر دے ارباب صاحب زمونږه مشر دے، مامخکښے هم خراج تحسین پیش کړے وو، بیا هم پیش کومه۔ بیا جی، ډسټرکټ اے ډی پی ایلوکیشنز دی۔ دے کښے زمونږ increase %25وو، پروسکال د دوئ ایک فیصد او دے کال دس دے۔ اوس په دے بنیاد چه ته ترقی کوے، په دے بنیاد باندے ته Jump لګوے نو دا تور ویښته به د میاں صاحب! سپین شی خو او به نه رسے، نو په دے کښے هم زما خپله تجزیه د دے د پاره ورکړے ده چه زمونږ د خپل ګورنمنټ یوه تجربه وه، مونږ پکښے کار کړے وو۔ زه ډیر په ادب سره، صرف د ګورنمنټ، هغه خپل د هغے وخت تیر مے هم ایښودے وواو دے ځل هم څومره باندے(چه) کوشش کولے شی۔ د تعلیم په مد کښ صرف دے ځل په پرائمری کښے پندره کروړ روپئ

اضافه شوے ده او په هائر ایجوکیشن کښے هم دومره څه Percentage پانچ کروړ ده خو په بجټ تقریر کښے پرائمری سکونونه دی 150، بجټ تقریر کښے تاسو رااوباسئ په هغے کښے دوئ اعلان کوی چه مونږه 150پرائمری سکول جوړوؤ او په اے ډی پی کښے 120دی۔ اوس مونږ اے ډی پی اومنو که بجټ تقریر اومنو؟ دا فیصله به دوئ راته کوی چه کومه خبره اومنو؟ او ما خپله زړه اے ډی پی هم راوړے ده د 2007-08، په دیکښے چار سو پرائمری سکولز دی۔ چه چار سو پرائمری سکولز په 2007-08 کښ وی نو اوس خو پکار وو چه دا آتهه سو وے، آتهه سو ته رسیدلے وے۔ تاسو چه دا خلاصه اوګورئ Extract No. 5، په دیکښے د سی ایم صاحب ډائریکټیوز دی 134 ملین، Extract No. 5 کښے 134ملین او ورسره د وزیر خزانه هم 134 ملین دی، یوه روپئ ترینه کمه نه ده۔ د چیف منسټر ډائریکټیوز خو ما لیدلے وو خو د وزیر خزانه والا دے څل پکښے اضافه اوشوله۔ (تالیاں) پروسکاال کښے دوئ ایښے وے پیسے د روډز د پاره چهه ارب، انچاس کروړ او دے څل ئے دوه اربه کمے کړ ی دی، په روډ کښے کمے دی دوه اربه، پانچ ارب تیره کروړ روپئ دوئ په روډ کښ ایښے دی، دوه اربه روستو راغلی دی په روډ کښے نو روډونه به څنګه جوړیږی؟ په هاؤسنګ اینډ بلډنګ کښے هم ډیر معمولی فرق دے خو یو بل څیز دے چه زهٔ به ډیر خواست کوم دے حکومت ته ډیر په عاجزانه انداز کښے چه زمونږه هغه ورونړه دی صحافیان، دوئ د پاره مونږه په خپل ګورنمنټ کښے یوه میډیا کالونی ایښے وه۔ هغه میډیا کالونی چه کله ما دوئ ته اعلان اوکړو نو دوئ هغه ته نام ورکړو' اکرام خان درانی میدیاکالونی'، بس هغه د شروع کولو وه چه حکومت لاړو او چه کله دا موجوده حکومت راغے نو ما ته احساس وو چه دا ستا نام دے، دا به دوئ نه کوی نو ما وئیل چه زهٔ به په هغه تیر بجټ کښے پاخمه چه دا زما نام ترینه اوباسئ، دا تاسو چه هر څه نام ورکوئ خو ګورے د اخبار او د ټی وی دا زمونږ چه کوم ملګری دی، دا ډیر بے وسه دی۔ یو خو د اخبار مالکان ورسره ډیر زیاتے کوی، تنخواه نه ورکوی او چه څومره ورکوی هغه ما ته پته ده، زما دوستان دی او د دوئ څه صورتحال دے نو خیر دے دومره طاقت خو ئے اوکړو چه' پشاور میډیا کالونی' ئے کړه، د درانی نام ئے اوویستو، زهٔ

په دے باندے ډیر خوشحاله یم۔ د نام ویستولو سره نه شخصیت ختمدلے شی او نه جوړیدلے شی۔ شخصیت په کردار، په محنت او هغه چه څه اوکړی نو ټول وخت پروت دی، دا په دیوال باندے د لیکولو نام نه دے خو اوس دا خصوصاً به زهٔ، چیف منسټر صاحب نشته، د ډیپارټمنټ مشر ته به ئے سوال کوم چه پرون دوئ وئیلی دی چه په هوا کښے خو ئے نه جوړوؤ، په هوا کښے نه میاں صاحب، تا نه ئے زهٔ په زمکه غواړمه او په خواست ئے درنه غواړمه۔ په زمکه او په زمکه به ئے جوړوے، په هوا به ئے نه جوړوے۔ بله خبره داده چه دے پورے به زهٔ راشمه، زمونږ دلته ډیر ښکلے کلچر دے، مونږ چه د مفتی محمود صاحب څومره احترام کوؤ، د هغه نوم په ادب اخلو، دومره د باچا خان هم اخلو۔ مونږ چه د مولانا فضل الرحمان څومره نوم په ادب اخلو، دومره د ولی خان هم اخلو۔ دلته ما د مفتی محمود صاحب په نوم باندے د یو Over head bridge افتتاح کړے وه هم دے اسمبلئ سره او هغه هم صرف زما افتتاح وه او د مفتی محمود نوم وو، هغه ئے د اے ډی پی نه اوویستو۔ بل زما یو ډیر قدر مند او ډیر په ما ګران او محنتی، یو ډیر غریب زما عالم وو، فضل علی صاحب د صوابئ، چه پینځه کاله ئے په ایجوکیشن کښ محنت کړے وو، هغه ته ما یو پبلک سکول ورکړو اوما ورته وئیل چه ستا په نوم به ئے جوړومه، ' فضل علی پبلک سکول ' په صوابئ کښے۔ د صوابئ خلق خو پرے خوشحال دی خو نوم ئے ترینه لرے کړو چه فضل علی څوک دے چه د دهٔ نوم وی؟ زهٔ پخپله خو داسے یمه چه ګوره دومره د برداشت یمه خو وائی چه د چا کور تهٔ کانړے وراوولے، د هغه نه د ګل طمع مه کوه۔ چه کله د چا کور ته کانړے تهٔ اوولے نو دلته خو زمونږه خپل کلچر دے نو هغه به ستا کور ته ګلونه نه اوولی او مونږه وایو چه مونږه خپل کلچر نه خرابوؤ، مونږ به خپل روایات نه خرابوؤ نو مونږه به هر کور ته ګل اوولو او کانړے به نه اوولو۔ اوس زما په مقصد باندے که دا پوزیشن نه، زمونږه د ګورنمنټ مشران پوهیږی، بیا به په دے خبرو باندے نظر ثانی اوکړی چه دا کومے ما د دوئ په مخکښے کیښنودے۔ تعمیر سرحد پروګرام دے جی، په هغے کښے یو ځائے دی ایک ارب، چوبیس کروړ او بل ځائے کښے دی دو ارب۔ مونږ بشیر بلور صاحب سره هم بله ورځ خبره کړے وه، زمونږه ډپٹی سپیکر صاحب هم وو او زمونږه سپیکر صاحب

هم وو او ما ورته اووئیل چه گورے ما چه څنگه مخکښے اووئیل چه اپوزیشن او گورنمنټ دګاډی دوه پهیے دی او په دے حالاتو کښے د یو بل لاندے کول چه دی، دا ځکه ښه نه دی چه دا حالات مونږه ته د دے اجازت نه راکوی۔ دلته د یووالی ضرورت دے ، دلته د اتفاق ضرورت دے ، دلته د اتحاد ضرورت دے او دلته د یو بل سره د مدد ضرورت دے ، نو زما به دا خواست وی چه په دے اے ډی پی کښے چه ایک ارب او دو ارب، دا تعمیر سرحد ورته وایئی یا سپیشل پیکج ورته وایئی، زمونږ سره د دے مشرانو دا وعده ده چه دا به Equal تقسیمیږی نو زهٔ ځکه نن دا د اپوزیشن سره، سکندر خان نه وو، محمد علی صاحب زمونږ سره ناست وو، لودهی صاحب وو، بل په دے بجټ کښے چه څومره څه دی، په دے باندے دے مشرانو، زهٔ په ریکارډ باندے راولم، زمونږه سره صلاح کړے ده چه دے ته به کمیټی جوړه کړو، څلور زمونږ او چه دوه یا درے د دوئ وی نو بیا به کښینو، مونږ به د اپوزیشن په حلقه کښے مداخلت نه کوؤ، Transfers and appointments او فنډ، دا به Equal کوؤ۔ دا هم زهٔ په ریکارډ راولم چه لکه په دے باندے د عمل اوشی۔ نو اوس راځم په ټیکسونو باندے او په اخبار کښے راغلی وو چه دا ټیکس فری بجټ دے ، هیڅ قسم ټیکس مونږه نه دے لګولے او مونږ اووئیل چه حکومت به څنگه ټیکس لګوی چه دلته دنیا ورانه ده، صوبه سرحد کښے ملاکنډ ډویژن تباه دے ، سدرن ډسټرکټس تباه دی، پشاور ویلی بالکل تباه ده او خدائے د زمونږه هزاره ډویژن د نظره نه کړی، هغه د خدائے اوساتی د دے تکلیفاتو نه، اوس ما باندے د ډونرز ډیر زیات بوجھ وو، وئیل چه مونږ د تیر شوی حکومت سره فیصله ده چه آبیانه به دومره په کال کښے زیاتوے۔
ما اووئیل چه زهٔ خو زمیندار سړے یمه، په جوارو ښه پوهیږیمه، په گړه، په گنو ښه پوهیږیمه او په باغونو ښه پوهیږیمه، زما په حکومت کښے به چرته هم په زمیندارو باندے آبیانه نه زیاتیږی او پینځه کاله ما Cap کړله، که یوه روپئ زیاته شوے وی په دے پینځو کالو کښے ، نو زهٔ د گورنمنټ نه جواب غواړمه او نن زما زمیندار، زما باغونه تباه، زما زمکے تباه او پچاس روپئ فی ایکړ بیا مونږ آبیانه زیاتوؤ او مونږ مرکز ته نه ورځو په جرگه باندے چه پیسے راکړه، زما په نوم درته راروانے دی؟ نو مونږ وایو چه په دے باندے د حکومت نظر ثانی

اوکړی او دا پچاس روپئ آبیانه چه ده، دا د واپس کړی. زما هوټلونو ته خو هسے هم څوک نه راځی، زما هوټلونه د بجلئ او د ګیس بل نه شی ادا کولے. هوټلونه ټول تباه دی او په هوټلونو باندے اضافی بوجھ لګول چه دی، دا هم داسے یوه خبره ده چه زما هوټل ته میلمه نه راځی، زۀ د هغے ګیس بل نه شم ورکولے، زۀ هغے ته څادر نوے نه شم اخستلے او په ما باندے پیسے لګوے نو دا هم ډیر زیاتے دے. دے هوټلونو باندے د هم نظر ثانی اوکړی او بل پینځه مرلے والا خو ډیر غریب سړے وی، هغه خو ډیر مجبوره سړے وی ګنی هر سړے لوئے کور ګوری. زمونږ په ګورنمنټ کښ پینځه مرلے کور باندے ما ټیکس ختم کړے وو او اوس په پینځه مرلے کور باندے ټیکس راغے. دوئ به دا راته وائی چه دا چه د چا دوه وی، مونږ ئے ترینه اخلو. چه کله ستا انسپکټر لاړ شی نو هغه بیا واپس نه راځی چه د هغه کور سړی نه ئے د کال شے نه وی اغستے. دا خبره به په جواب کښ نه راکړوے چه د چا دوه کورونه وی نو مونږ د هغوی نه اخلو. مونږ ته به دا څنګه پته لګی چه دا سړے پخپله دے پکښے، که چرته ئے په کرایه ورکړے دے؟ د دے نه به یو لوئے جنجال جوړ شی او د محکمے او د خلقو په مینځ کښ به روزانه لویه جنګ جھګړه وی، راځی به. وائی به چه دا ستره نه پاس افسران چه دی، دا ډیر مالداره دی او ستره نه پاس افسران څه خپل ملګری مے دی، پیژنم چه هغه دکان ته ځی، هلته هغه اتوار بازار کښ څیزونه ارزان وی، هلته بینډئ هم اخلی، هلته ټماټر هم ارزان وی، په هغوی باندے ئے پروفیشنل ټیکس سیوا کړو. وائی چه په ډاکټرانو باندے هم دے او ډاکټران هم ټول نه دی. کلینک ئے نیولے وی، سړے دوئ ته لا نه ورځی، یو نیم داسے هم وی. اوس به هغه عاجز هم پروفیشنل ټیکس ورکوی که دوه مریضان نه ورځی او هغه لس او دیرش زره چه اخلی، هغه به هم اخلی نو په دے ټولو ټیکسونو باندے، اول خو زۀ دا رد کوم چه دا ټیکس فری بجټ نه دے او باوجود چه زما صوبه، زمونږ خلق په War کښے دی او په هغوی باندے یو اضافی ټیکس لګول چه دی، دا خو داسے دی چه د هغه خلقو په زخمونو باندے مالګے اچول دی نو زۀ ډیر، یو دوه څیزونه رانه پاتے دی چه تاسو ته زۀ یو شے بل اوښایم چه دا سکولونه خو ئے ورکړے دی چه ایک سو بیس به جوړیږی خو د ایک سو بیس د پاره Allocation زۀ درته

وایمه۔'The Up Gradation of 150 Middle Schools to High level'، د دے ټولو پیسے دی، دا خو هغه عارضی دی، دا خو چه کله صحیح Estimate راشی نو زیاتے شی، دا دی 875 او دے کال کښے ئے ورته ایښی دی 100 ملین نو چه په 150 باندے چه سو تقسیم کړے نو درے لکهه راځی که څو؟ نو دا یو سکول به په پینځه کاله کښے پورا کیږی او که په شپږ کاله کښے؟ زما خیال دے دا ګورنمنټ به تیر شوے وی خو دا سکول به چرته جوړ نه شی او اته کاله به اخلی۔ (تالیاں)

بل جی 120 سکولونه دی، 410 ملین روپۍ دی او دے د پاره ئے ایښی دی 168، زهٔ یو تجویز ورکوم ګورنمنټ ته، چونکه مونږ چه خدائے پاک دے منزل ته رارسولو چه دا کرسئ د صوبے ملاویده، مونږ د هیډ کلرک دفتر کتلے وو، ما د سیکشن افسر دفتر کتلے وو، ما د چیف انجینئر دفتر کتلے وو، ما په فنانس کښے چه کوم سیکشن افسر ناست وی او هغه هلته پوسټونه نه Sanction کوی، د هغے حال راته پته وه؟ دا ټولے خبرے په ما تیرے شوے وے او دے ورته زهٔ پخپله ولاړ وومه نو دا ټول تکلیفات ما ته معلوم وو او بیا به ما ورته وئیل چه وروره، نور به دا نه کوے او بیا چه کله به دلته بجټ پاس شو، Half fund چه دے، دا به مونږ په دس دن کښے ضلعے ته لیږلو۔ 15 تاریخ پورے چه زما پیسے د دے بجټ چه دی، دا به په ضلع کښ وے او بیا به 25% فوراً پسے تلے په درے میاشتو کښے او چه کله به کالج جوړ شو، هسپتال به جوړ شو، پوسټونو سینکشن د پاره به څوک فنانس ته نه راتلل چه 75% بلډنګ به مکمل شو، بیا به مونږ ورته اووئیل چه پوسټونه اولیږئ چه هلته Completion اوشی، بیا به ئے آرډرونه په ضلع کښ اوشی نو دا هغه سهولتونه دی چه د یو سکول په چوکیدار پسے به سړے راځی، سینکشن به دے اخلی، هسپتال به جوړ شوے وی، پوسټونه به نه ورته سینکشن کیږی نو دا که چرته هم لږ د فنډ، ګوره زما دوه سکولونه وو، دوه میاشتے کیږی چه ټینډر ئے اوشو د دے بجټ نه مخکښے، اوس دوه میاشتے اوشولے چه ټینډر ئے اوشو نو دے کال کښے خو په هغے اوس کار شروع کیږی، اوس ئے بنیادونه اچولی دی نو دا به بل کال کښے راځی نو زما به ګورنمنټ ته دا تجویز وی چه دوئ دا فنډ ضلعے ته اولیږی او آرډر د جاری کړی چه فوراً د دے سکولونو پی سی ون جوړ کړی او یوه خبره دوئ زمونږ د اپوزیشن

نه پټوی، هغه به ئے زهٔ اوښايمه. په پی ايس ډی پی کښے هم ايک هزار پرائمری سکولونه مرکزی حکومت شامل کړی دی او زهٔ به دا ريکويسټ کومه چه هغه ايک هزار پرائمری سکولونه چه راځی، دوئ د پی اينډ ډی ته هدايات ورکړی چه په دے کال کښے آٹھ سو پی سی ون خو د خا مخا جوړ کړی او که نه وی، بيا به حکومت ختم شوے وی، خدائے د نه کړی ختم او دا به مونږ ته د مرکز نه راروان وی او که چرته وی نو ايک هزار پی سی ون د جوړ کړی چه په دے کال کښے ايک هزار هغوی سره دے پی ايس ډی پی کښے زمونږ Allocation دے او ايک هزار سکولونه راشی، بيا به لړ، چونکه بنياد پرائمری سکول دے او که پرائمری سکول ايک سو بيس وی او مډل ايک سو پچاس وی نو دا خو داسے دی چه لکه د پاسه نه راشروع شئ او لاندے راځئ. سړے د لاندے نه پاس ځی چه لاندے بنياد زيات وی نو سړے بيا پاس پرے باندے ختلے شی. بل زما به يو گزارش وی، دا گورئ د بدنيتئ په بنياد باندے نه دے، په دے بجټ سيشن کښے چه مونږ يو متفقه قرارداد پاس کړو چه پانچ بلين ډالر، ايک سو چوبيس يورو، ډالر، دا چه راځی، دا زمونږ په وينه دی، دا زمونږ د صوبے حق دے، دا مونږ ته راکړئ. *(تالیاں)* دا زمونږ د صوبے حق دے، دا مونږ ته راکړئ او نه د ملاکنډ په دے باندے دا څه آسانيدے شی چه تهٔ دوه اربه او پچاس اربه ملاکنډ ته ليږے، زما د ملاکنډ په هغے باندے هيڅ قسم هلته څه جوړيدے نه شی. نو مونږ به دلته په شريکه باندے يو قرارداد راوړو خو بيا به داسے دا گورنمنټ راته نه وائی چه الفاظ ئے نرم کړه، الفاظ به ئے زهٔ جوړوومه او ښه په روغ نيت او په اخلاص باندے ځکه چه زما په نوم پيسے راځی او ما ته نه ملاويږی، نو وائی چه "دا زما فلانئ چه پکښے نه وی نو په هغه واده د هور اولگی" نو چه زما ورونړه دلته په مصيبت کښے دی، زما خلق په مصيبت کښے دی او ما ته څه نه راکوے او بل ته زما پيسے ملاويږی نو په ديکښے به يو دا اوکړو او بل به زهٔ يو صرف، گوره وائی چه دا مار چه تير شی، نو يو سړے ناست وو، وائی چه اوس ولے خفه يے، هغه خو لاړو. وائی چه لار ئے اوليده. لار به نه پريږدے. د تين اعشاريه پانچ بلين لار د ورکړه، اوس به د سم تنگ کړی په ايک سو دس باندے. مونږ به اووايو چه په دے بجټ سيشن کښے چه مونږ ته دو اعشاريه څومره راځی نوره؟

ایک آواز: دو اعشاریه پانچ۔

قائد حزب اختلاف: دو اعشاریه پانچ، چه اجلاس لګیا وی، وفاقی حکومت د مونږ ته را اولیږی ګنی زمونږه احتجاج دے۔ (تالیاں) او که چرته وفاقی حکومت مونږ ته دو اعشاریه پانچ نه رالیږی، بیا زهٔ وایم چه د دے بجټ ضرورت نشته۔ پکار دا وو چه د دے بجټ نه مونږ بائیکاټ کړے وے او دوئ ته مو وئیلی وے چه زهٔ پسته بجټ پاس کوم چه ما ته چهٔ ارب هم راکړے۔ (تالیاں) چه چهٔ ارب د نه وی راغلے، زهٔ خپلو خلقو ته داسے نه شم کولے چه د سات ارب د خسارے بجټ پیش کوم۔ تیر کال خو بیا هم ګزاره اوشوه، دے ځل سات ارب روپئ خو زهٔ وایم اوس نه خساره ده او میډیا ته هم زهٔ دا ګزارش کوم چه د ټول هاؤس د طرف نه د نارضګئ اظهار اوکړی که د دوئ خوښه وی چه مونږ ته دا خپلے دو اعشریه پانچ چه دی، اوس اوس راکړی په دے دوران کښے او زهٔ بیا هم تیار یمه، زهٔ خو تاسو سره په دے صوبائی حقوقو باندے هغه حد پورے تلو ته تیار یمه، ګورئ چه تاسو د مرکز حکومت ته کله ځئ او هلته تاسو کومه قربانی غواړئ، مونږ به د رسرو یو، مونږ به درکوؤ۔ (تالیاں) خو مونږ به د بجلئ پیسے را غواړو او که چرته مونږ تاسو په شریکه باندے قربانی ورکؤو، بیا به دا ایک سو دس هم راکوی او دو اعشاریه پانچ به هم راکوی، نو زهٔ تاسو ته د خپل طرف نه مکمل تعاون درکوم چه مونږ به د دوئ نه دا پیسے رااوباسو۔ ما دلته د مینے نه خبرے کړے دی، کیدے شی چرته داسے خبره راغلے وی چه هغه د چا په زړه باندے ښه نه وی راغلے، ما صرف خپلے خبرے په خپل زړه کښے چه مے وے، هغه د ښه پوهولو د پاره کړی دی، د چا د زړه د ازارولو د پاره نه دی، چا ته د تکلیف ورکولو د پاره نه دی۔ دا صوبه زمونږ کور دے او دا حکومتونه چه دی، دا ځی راځی۔ دا د چا سره وفا نه کوی۔ زهٔ په دے اسمبلئ کښے درے ځله اکلوته به راغلمه، دویم د ګواهئ ملګرے به مے نه وو۔ درے ځله زهٔ د خپلے پارټئ د طرف نه یواځے ممبر راغلمه، نو هغه خدائے وو چه بیا ئے قائد ایوان راوستمه دلته په دے هاؤس کښ۔ نو دا خو د بندیانو په لاس کښے نه ده، دا خو د هغه رب په لاس کښے ده۔ نو مونږ که د عوامو صحیح خدمت کوؤ او په صحیح

جذبے سرہ کوؤ او بل څه مو په زړه کښے نه وی نو اللّٰه تعالیٰ بندے لارے کھلاوئ۔ زما د خپلے زندګئ دا ټوله مشاهده ده که تهٔ چرته د انسان د فلاح د پاره په صحیح نیت کار کوے ، هغه لاره بندیدے نه شی، هغه به کھلاؤ وی۔ چه مونږ په شریکه باندے د دے صوبے په دے تکلیف کښے چه خدائے د اوباسی زمونږه صوبه د دے تکلیف نه او دیکښے به مونږ په شریکه کوشش کوؤ چه خدائے پاک زمونږ دا تکلیف ختم کړی۔ ما د خپل بنوں خبره هم اوکړه، د جواب انتظار ته ناست یمه چه کرفیو به کله ختموی؟ او که جرګه غواړی، جرګه زما شته چه تاسو څه غواړئ، زهٔ د رسره کښینمه۔ نه د کرفیو ضرورت شته او نه د آپریشن ضرورت شته۔ هلته دومره زمونږ خلق لږ منت منی چه مونږ ورته اووایو چه دا مه کوه نو بیا ئے نه کوی۔ ډیره مننه۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: شکریہ، درانی صاحب۔ شازیہ اورنگزیب بی بی۔ ان کے پارٹی لیڈر موجود نہیں ہیں، ان کی جگہ بی بی بولنا چاہتی ہیں۔ جی، شازیہ اورنگزیب بی بی۔

محترمہ شازیہ اورنگزیب خان: ډیره مهربانی، جناب سپیکر۔ ما چه وختی کومه خبره کوله، پرون ' اے وی ټی خیبر' باندے یو لائیو کوریج د شانګله نه راغلے وو، دا This is very important. Basically زهٔ په هغے باندے خبره کول غواړمه جی، هغه 25 days مخکښے چه کوم خلق راغلی دی پیاده جی په غر باندے، په واوره باندے نو دا هغه د میر آدم کلی او د خوازه خیلے خلق چه کوم دی نو لیونړ کلی ته راغلی دی او هلته کښے ډی سی او ته د حکومت د طرف نه Relief goods هم تلی وو، فنډز هم ورکړے شوے وو، بیا هلته کښے کیمپس لګیدلے وو چه کوم ځائے کښ Relief goods به دهٔ Deliver کولو، هغه هر څه نه دی شوے جناب، او دا یو ډیر غریب کلے دے، د هغے خلقو چه څومره وس دے، د هغے نه زیات هغوی نه شی کولے۔ زهٔ ریکویسټ کوم تاسو ته، ستاسو په توسط سره زهٔ چیف منسټر ته۔۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: میاں صاحب! د دے بی بی دا خبره اولیکئ ځان سره او په بجټ باندے څه وئیل غواړئ؟

محترمہ شازیہ اورنگزیب خان: په بجټ باندے خو زمونږه پارلیمنټری لیډر چه راځی، هغوی به بیا خبره کوی۔

جناب سپیکر: شکریہ، بی بی۔

Mst: Shazia Aurangzeb Khan: Thank you very much.

جناب سپیکر: سکندر خان شیر پاؤ صاحب!

حاجی قلندر خان لودھی: جناب سپیکر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: آپ اس کے بعد۔ سکندر خان۔

جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ: بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ زۀ ستاسو مشکور یمه جناب سپیکر، چه تاسو ما له موقع راکړه۔۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: ایک میری طرف سے گزارش ہو گی کہ آج ہمارے وزیر اعظم صاحب بھی تشریف لائے ہیں تو کوشش کرینگے کہ جتنا بریف ہو سکے جی اور آپ کی تو ٹیکنیکل اور Solid بات ہوتی ہے تو اپنے مقصد تک رہیں۔ شکریہ۔

جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ: لږه به راسره گزاره کوئ، لږ به ټائم راکوئ جی۔ جناب سپیکر، بجټ د گورنمنټ د Policies, reflection وی او Specially همیشه د وړومبنی بجټ خپل یو اهمیت وی خو چونکه وروستو ځل حکومت ته دومره ټائم نه وو ملاؤ شوے او تقریبا دوه میاشتے ورته ملاؤ شوے وے د بجټ جوړولو د پاره نو دا بجټ په هغه لحاظ سره لږ زیات اهمیت لری چه دیکښے به زیات اصلی د گورنمنټ د هغه Policies reflection را مخامخ کیږی۔ نن که مونږه په دے بجټ باندے جناب سپیکر، څه تنقید کوؤ نو زۀ دا مخکښے نه وئیل غواړمه چه دا تنقید برائے تنقید د پاره نه، بلکه تنقید برائے اصلاح د پاره کوؤ۔ مونږ ته پته ده چه د بجټ پاس کولو خبره راشی نو تعداد تاسو سره شته او تاسو به هغه پاس کړئ خو کم از کم مونږه دا غواړو چه دے هاؤس کښے د عوامو نمائندگی کوؤ او د هغے نمائندگئ حق دا دے چه مونږه ریکارډ کم از کم درست اوساتو۔ وروستو ځل بجټ کښے هم جناب سپیکر، که ستاسو یاد وی نو ما دا هم وئیلی وو چه دے حکومت یو غلط Trend شروع کړے دے او هغه دا دے چه Deficit پټوی حالانکه Deficitدومره څه داسے خبره نه ده خو تاسو ته یو اندازه اوشی چه

صحیح Deficit تاسو اوښایئ نو د هغے مطابق تاسو پلاننګ کولے شئ او هغه Gap bridge کولو د پاره څه طریقه کار او څه پلاننګ جوړولے شئ۔ هغه بله ورځ چه فنانس منسټر صاحب کله خپل سپلیمنټری بجټ پیش کړو نو زمونږه هغه خبره ثابته شوه چه هغه ځل هغوی وئیل چه هغه سرپلس بجټ وو او نن که تاسو اوګورئ نو سپلیمنټری بجټ د چوده ارب روپو هغوی را مخامخ کړے دے نو دا دا شے ثابتوی چه هغه وخت کښے دوئ صحیح فګرز نه وو ښودلی۔ زۀ خو به دا اووایمه چه دا چوده ارب والا فګر هم غلط دے ځکه چه دیکښے د نټ هائیډل پرافټ والا، څنګه چه درانی صاحب خبره اوکړه، هغه 2.5 بلین دوئ شمارلی دی نو هغے نه پس دوئ چوده ارب ښائی، که هغه پکښے تاسو حساب کړئ نو دا تقریبا ستره ارب ته د هغے Deficit هم رسی۔ کوم موجوده بجټ چه دے جناب سپیکر، په دیکښے هم بد قسمتئ سره هغه غلطی بیا کړے شوے ده۔ د فنانس منسټر صاحب، پکار خو دا وه چه بجټ سیشن دے او ایکټنګ فنانس منسټر صاحب بجټ هم پیش کړے دے چه نن خو موجود وے دلته کښ خو ځه د هغوی به نور ضروری کارونه وو، دے اسمبلئ نه به هم ضروری ځیزونه موجود به وی چه هغے کارونو کښے هغوی مصروفه دی خو زۀ دے باندے د هغوی مشکور یمه چه پرون چه هغوی کوم پریس کانفرنس کړے دے نو هغے کښے ئے دا Admit کړے ده چه او مونږه Deficit غلط ښودلے دے او دا ئے منلی دی چه د Salaries د پاره کوم increase 15% دے، هغه پکښے مونږه نه دے Calculate کړے او دغه 3.9 ملین به ورسره نور هم دے Deficit کښ زیاتیږی خو جناب سپیکر، دغے سره سره نور هم داسے فګرز دی چه که هغه مونږ را مخامخ کړو نو دا Budget deficit نور هم زیاتیږی۔ که مونږه د سپیچ Page 28 ته لاړ شو او د وائټ پیپر Page 67 ته لاړ شو، هلته د Wheat subsidy خبره شوے ده او جناب سپیکر، په هغے کښ لیکلی دی په سپیچ کښ پخپله چه "10.022 *بلین روپے وفاقی حکومت سے طلب کئے جائیں گے*" یعنی چه دا دوئ په اکاؤنټ کښے نه دی اغستلی نو چه دغه 7 بلین هغه کړو او 10 بلین دا کړو نو دا فګرز لاړ شی17بلین ته د Deficit او دا لا شروع ده جناب سپیکر، لا دغه شروع شوے نه دے۔ دے سره سره چه زمونږه فیډرل ګورنمنټ چه کوم Allocation کړے دے، کوم ځان د پاره ئے ټیکس

ریونیو ټارګټس ایښی دی، هغه ټیکس ریونیو ټارګټس هم زما په نظر کښے Achievable نه دی او څنګه چه وروستو کال په هغے کښے کمے راغلے وو او بیا مونږ ته سټیټ ټرانسفرز کښے هم او په نور فیډرل ټرانسفرز کښے او جی ایس ټی کښے پیسے کمے ملاؤ شوے نو دا به هم راکمیږی۔ ورسره زمونږه خپل چه کوم Receiptsدی یا مونږه چه کوم وایو چه زمونږه خپل چه کوم Provincial receipts دی، نو هغه هم که مونږه اوګورو نو وروستو کال هم مونږه هغه نه دی Achieve کړی او دے کال هم ما ته نه ښکاری چه مونږه Achieve کړے شو ځکه چه اکانومی داسے ده، زمونږه د صوبے حالات داسے دی چه مونږه دا هدف نه شو Achieve کولے نو چه دا هم ورسره یو ځائے کړو او ورسره Inflation مونږه واخلو په 20% باندے جناب سپیکر، نو دا Deficit به تقریباً 20 بلین روپئ ته رسی۔ دلته کښ جناب سپیکر، فنانس منسټر صاحب په خپل سپیچ کښے په Page 17 باندے د Miscellaneous 11 billion ذکر کړے دے، هغه ډیر Mysterious figure دے ځکه چه د هغے Explanation اوسه پورے مونږه ته رامخامخ نه شو۔ ما پرون په ټی وی باندے کتل چه یو وزیر صاحب د هغے Explanation ورکولو او وئیل ئے چه دا د امبریله پراجیکټس د پاره او د ډیویلپمنټ د پاره دے، زهٔ د هغه وزیر صاحب په نوټس کښ دا راوستل غواړمه چه د هغے بیا ذکر به په ډیویلپمنټ بجټ کښ کیدلو که دا د هغے فګر وے۔ دا د هغے فګر نه دے، دا Current expenditure کښے د دے ذکر شوے دے او که هلته که د وائټ پیپر Page ته مونږه لاړ شو نو هلته کښے که د غه 11.4 بلین واخلو چه دا هغه 11 بلین دغه دے نو هغه پبلک آرډر او سیفټی آفیئرز د پاره ایښودلے شوے دے، د ډویلپمنټ د پاره نه دے ایښودلے شوے۔ نو زما به د حکومت نه مطالبه وی چه دوئ د دا Explain کړی چه آیا که دا واقعی پبلک آرډر سیفټی والا فګرز دی نو د دے ولے ذکر په بجټ تقریر کښے نه وو او دلته ئے Miscellaneous ولے په بجټ تقریر کښے ذکر کړے دے؟ د دے سره سره جناب سپیکر، چه څنګه ما ذکر اوکړو ما د Inflation هم، Inflation figure تقریبا 20% دوئ دغه کوی او خیر دے د جون د میاشت د پاره او د مئی میاشت د پاره دوئ 17.1% ښائی خو که دیکښے مونږه اوګورو، ما Last year هم تاسو ته دا

فگرز ښودلی وو چه دا یو Average وی او دیکښے که مونږه واخلو نو زمونږه د صوبے همیشه نه دا فگرز زیات ښائی ځکه چه دلته کښے پسماندگی هم زیاته ده او هغے لحاظ سره مونږ د پورټ نه هم لرے یو او نور هم د هغے فیکټرز ډیر دی چه دلته کښے Inflation زیات وی نو په دغه لحاظ سره که مونږه دا 15% Salaries increase هم اوګورو نو زما په نظر کښے دغه بالکل ناکافی دے۔ جناب سپیکر، زهٔ به دلته کښے لږ ډیر د فیډرل بجټ ذکر هم کومه۔ د فیډرل بجټ ذکر به ځکه کومه چه زمونږه 90% resources، مونږ په فیډرل ګورنمنټ باندے Dependent یو او دے ځله چه کله فیډرل بجټ راتلو نو زمونږه د خلقو ډیر توقعات وو ځکه چه زمونږه د صوبے خپل مخصوص حالات دی۔ دلته کښے چه د Terrorism او د Extremism په وجه کوم نقصانات شوی دی، انفراسټرکچر ته کوم نقصان رسیدلے دے او بیا ورسره ورسره کوم چه Overall economic conditions هم کوم دی نو د هغے د وجے نه فیډرل ګورنمنټ نه زمونږه ډیر توقعات وو چه زمونږ مسئلو طرف ته به دوئ توجه ورکوی او زمونږه د صوبے کوم چه دا کشالے دی، د دے د کمولو به دوئ کوشش کوی خو زهٔ ډیر افسوس سره وایم چه فیډرل ګورنمنټ هم هغه شان دے طرف ته توجه ورنکړه۔ که مونږه د آئی ډی پیز په سلسله کښے اوګورو نو د پچاس ارب چه ذکر کیږی، ما نه مخکښے درانی صاحب هم د هغے خبره اوکړه چه هغه ناکافی دی او خصوصاً چه مونږه دا بیا وایو چه دا به د Rehabilitation او Reconstruction د پاره هم استعمالیږی نو د هغے د پاره بالکل ناکافی دی او ورسره چه دلته کښے د صوبے د طرفه هم اوګورو نو صرف دوه اربه آئی ډی پیز د پاره ایښودل، دغه هم یو لحاظ سره یو ټوقه ده خو جناب سپیکر، مونږه د فیډرل ګورنمنټ نور رویے ته نو یو Pattern مخامخ راځی۔ وروستو ځل هم ما دا خبره کړے وه او زمونږه دا طمع وه چه دے ځل به مونږ سره د وفاقی حکومت د طرفه کم از کم امداد به کیږی او دا کوم چه مشکلات دی، دیکښے د کمی راوستلو کوشش به کیږی خو که نن هم مونږه د پی ایس ډی پی فگرز رااوچت کړو نو صرف لس اربه روپئ زما د صوبے د پاره ایښودلی شوی دی۔ وروستو کال اته اربه ایښودلے شوے وے۔ د دے دا مطلب چه صرف دوه اربه Increase دے حالانکه هغه اته اربه کښے هم

صرف دوه اربه زما صوبے ته ملاؤ شوے دی، نورے زما صوبے ته نه وے ملاؤ شوے وروستو کال خو دے سره سره چه زۀ بل خوا ته د بلوچستان پی ایس ډی پی فګرز ته اوګورم نو دے کال د هغوی د پاره 71 بلین روپئ ایښو دلے شوے دی جناب سپیکر، وروستو کالو د پاره 40 بلین روپئ ایښودلے شوے وے او زما د صوبے د پاره چه کوم کښے آئی ډی پیز د لکهونو په تعداد کښ نن بے کوره شوی دی، نن دلته کښے چه کوم حالات دی، د هغے د پاره صرف لس اربه روپئ ایښودلے کیږی او هغه هم لا پورا پته نه لګی چه دا پورا لس اربه به مونږ ته ملاویږی او که نه به ملاویږی؟ ورسره ورسره چه زۀ بیا دے ته هم اوګورمه، ټهیک ده چه بلوچستان ته هم چه حق ملاویږی نو مونږ په هغے باندے خوشحالیږو، نورو صوبو ته چه حق ملاویږی، مونږه پرے خوشحالیږو خو کم از کم مونږه دا غواړو چه زمونږه صوبے سره، مونږ سره هم انصاف اوشی چه د بلوچستان خبره راځی نو هغوی ته 27 ارب د فیډرل ګورنمنټ Loan چه دے، هغه معاف کیږی، Write off کیږی، چه د بلوچستان خبره راځی نو د 32 ارب روپو هغوی د پاره د پیکیج اعلان کیږی خو چه جناب سپیکر، زما د صوبے خبره راځی نو په هغے باندے بیا هلته کښے بالکل خاموشی اختیار کیږی۔ زۀ جناب سپیکر، د دے هاؤس په وساطت دا یوه مطالبه کول غواړمه د وفاقی حکومت نه چه زمونږه چه کوم 15ارب روپئ CDL Loans دی، څنګه چه بلوچستان کښے هغه معاف کړے شوی دی، پکار ده چه زمونږه د صوبے هم دا معاف کړے شی۔

جناب سپیکر! د نیټ هائیډل پرافټ په ایشو باندے درانی صاحب هم خبره اوکړه، هغه ستاسو مخامخ دی چه نه د هغه جرګے څه افادیت را مخا مخ راغلے دے او نه دے کال هغه پورا فګرز مونږ ته ملاؤ شوی دی د شپږ اربه روپئ، درانی صاحب خو دے وخت کښ هاؤس کښ موجود نشته خو دوئ ته به یاد وی چه په 2003-04 کښے هم صوبے ته به دا د کال په آخر کښے ملاویدلے دا چهـ بلین، دوئ او سراج صاحب راغلی وو او هلته کښے ئے زمونږه مشر سره ملاقات کړے وو، هغه وخت کښے هغوی سره واټر اینډ پاؤر محکمه وه او هغوی هغه وخت کښے صوبے سره دا یو Written agreement کړے وو چه Quarterly به ریلیز کیږی او بیا Quarterly هغه ریلیز د درانی صاحب په ټول ټائم کښ، پکار

دی چه صوبائی حکومت دا خبره اوچته کړی او دا پیسے د Quarterly ریلیز کیږی نو هله به هغه استعمالیدے شی او په هغے څه دغه راوتلے کیدے شی۔ ورسره ورسره چه کوم زمونږه د صوبے د دے پرافټ نور هم د بقایا جات خبره ده، هغه ایشو هم پکار ده چه مونږه زر تر زره اوچته کړو ځکه چه دا نن کوم حالات چه دی نو دے د پاره ضرورت دا دے چه دومره مونږ ته خپل وسائل ملاؤ شی چه مونږه د خپلے صوبے دا کوم مشکلات دی چه دا کمولے شو۔ زۀ دلته کښے په دے باندے هم افسوس کوم جناب سپیکر، چه د بجټ نه مخکښے این ایف سی ایوارډ اونکړے شو۔ پکار دا وه چه دا دے بجټ نه مخکښے شوے وے۔ په هغے کښے به د صوبو شیئر زیات شوے وو او د هغے فائده به ورکوټو صوبو ته او بیا خصوصاً زما صوبے ته رارسیدله ځکه چه که مونږه اوګورو نو نورو صوبو ته خو ګرانټ څه د پی ایس ډی پی په ذریعه څه نه څه ملاؤ شی خو زما صوبے ته هغه نه ملاویږی، نو دا به یو دغه شوے وو۔ جناب سپیکر، دغه سره سره که د Provincial Autonomy، د Concurrent List او د Constitution amendments زۀ دلته کښ ذکر اونکړم نو زما خیال دے، دا به زیاتے وی ځکه چه د تیر کال نیم راسے نه مونږ دا آورو چه یرهConstitution amendments به کیږی، Concurrent list به ختمیږی خو ننه پورے نه د هغے کمیټئ جوړے شوے، ننه پورے نه هغے باندے څه عملی هغه شان څه اقدامات اوچت کړے شو۔ جناب سپیکر، زۀ دلته کښ اوس د پراونشل ګورنمنټ طرف ته راځمه۔ څه خو زۀ به ورته اووایم چه بدقسمتی ده د صوبے چه هغه شان حالات هم څه داسے دغه دی، پسماندګی مخکښے نه ده او دا د دهشت ګردئ او نور دا لهر، دا ورسره دے خو ورسره زمونږه د صوبائی حکومت څه هغه شان Priorities باندے هم مونږه نه پوهیږو۔ جناب سپیکرا! یو لحاظ سره چه مونږه اوګورو ځکه چه د تیر کال نیم راسے نه مونږه آورو چهConstitutional amendmentsبه کیږی، Concurrent List به ختمیږی خو ننه پورے نه د هغے کمیټئ جوړے شوے او تر ننه پورے په هغے باندے څه هغه شان عملی اقدامات اوچت کړے شو۔ جناب سپیکر، زۀ دلته کښ اوس د پراونشل ګورنمنټ طرف ته راځمه۔ څه خو زۀ به ورته اووایم چه بدقسمتی ده د صوبے چه هغه شان حالات هم څه داسے دغه دی، پسماندګی د

مخکښې نه ده او دا د دهشتګردئ او دا نور لهر ورسره دے خو ورسره زمونږه د صوبائی حکومت څه هغه شان Priorities چه دی، په هغې باندے هم مونږ نه پوهیږو۔ جناب سپیکر، یو لحاظ سره چه مونږه اوګورو نو مونږ ته ښکاری چه Adhoc policies implement کیږی او هغه شان یو Permanent policies، یو داسے Vision والا Policies چه دی، هغه مخامخ نه راځی۔ نن تاسود دے نه پخپله اندازه اولګوئ جناب سپیکر، چه دا څومره د بدقسمتئ خبره ده چه زمونږه د صوبے بجټ پیش کیږی، منسټر هم ایکټنګ فنانس منسټر وی، سپیکر صاحب چه کله هغوی کال کړی وو نو پخپله ئے ورته هم ایکټنګ فنانس منسټر وئیلے وو او دغه شان ایکټنګ فنانس سیکرټری هم موجود دے، نو د دغے نه اندازه کیږی چه دوئ څومره دے بارے کښے سیریس دی او څومره دا شے مخکښے بوتلل غواړی، د صوبے دا مسئلے مخکښے بوتلل غواړی؟ جناب سپیکر، د حکومت همیشه دا یو کوشش وی چه هغوی یو Pro-active role ادا کوی، مخکښے نه دا Judge کوی چه یره که مونږه دا Step اخلو نو د دے به څه Repercussion وی او د هغے مطابق بیا یو پلاننګ کوی، Initiative همیشه ځان سره ساتی خو زهٔ ډیر افسوس سره وایم چه موجوده صوبائی حکومت چه دے، هغوی Initiative ځان سره بالکل نه دے ساتلے، Pro-active role ئے پریښے دے بلکه Reactionary role یو لحاظ سره ادا کوی۔ چه واقعه اوشی، د هغے نه پس مونږه د هغے باره کښې سوچ کوؤ۔ بیا سوچ کوؤ چه یره دا به اوس څنګه طریقے سره دغه کولے شو؟ یو Reactionary role ئے Play کول شروع کړے دے او د دے Example که یو لحاظ سره اوګورئ نو د آئی ډی پیز دا سیچویشن چه دے، دا د دے یو ډیر Classic example دے۔ چه کله ئے آپریشن شروع کولو نو دوئ ته پکار وو چه دا اندازه په هغے وخت کښے وے چه دومره خلق به بے کوره کیږی او د هغے د پاره مخکښے نه پلاننګ پکار وو خو زهٔ ډیر افسوس سره وایم چه د هغے پلاننګ نه هغه وخت کښے اوکړے اوشو او نه نن مونږه ته داسے ښکاری چه پلاننګ موجود دے بلکه Mismanagement چه دے، هغه موجود دے۔ نن که دے مسئلے طرف ته توجه ورنکړے شوه جناب سپیکر، نو د دے نه یو ډیر لوئے Humanitarian crisis جوړیدے شی او داسے Crisis به جوړ شی چه بیا به هغه

د هیچ چا لاس کښ نه وی۔ د دے د پاره دا ضروری ده چه دے طرف ته توجه ورکړے شی او صرف دا نه چه اوس کوم دلته کښ بے کوره خلق متاثرین موجود دی، چه د هغوی خیال ساتل دی، د دوئ د Rehabilitation د پاره د اوس نه طریقه کار او پلان جوړول، بیا هلته کښے د سول ایډمنسټریشن موجودګی کول او ورسره د Reconstruction او بیا د ډیویلپمنټ د پاره یو طریقه کار، د اوس نه چه دا پلاننګ مونږه جوړ نکړو نو جناب سپیکر، بیا به ډیره ګرانه وی او بیا به دا Handle کول ډیر مشکل کار وی۔ ورسره ورسره جناب سپیکر، دے طرف ته هم توجه ورکول پکار دی چه بعضے ضلعے چه کوم ډائریکټ د دے نه Affected نه دی خو د دے Crisis د وجے نه هغوی باندے Effects دی، زما اشاره د چترال او د شانګلے طرف ته ده، چه هغوی باندے خو ډائریکټ هلته کښے آپریشن به نه وی خو د کرفیو د وجے نه په چترال او شانګله کښے Food shortage راغلے دے نو پکار دا دی چه د هغے د پاره هم بندوبست اوکړے شی۔ د ملاکنډ ډسټرکټ چه دے، اپر سوات، سوات تحصیل رانیزئ تحصیل چه دے، چه د Food shortage هلته کښے مشکلات دی خلقو ته، د هغے د پاره توجه ورکړے شی او ورسره ورسره جناب سپیکر، هغه Host districts، هغه ضلعے چه کوم کښے دا متاثرین راغلی دی او آباد شوی دی، دلته کښے اوسی لګیا دی، د هغوی په Infrastructure باندے یو Burden راغلے دے، پکار ده چه دے طرف ته هم مونږه توجه ورکړو، د هغوی Infrastructure د پاره هم یو طریقه کار جوړ کړو، یو پلان جوړ کړو۔ جناب سپیکر، د Law and order situation, kidnapping for ransom, robberies, murders, destruction of infrastructure هر یو Walk of life affect کړے دے، نن د صوبے انډسټریز بند دی، بزنس خراب شوے دی۔۔۔۔۔

__جناب سپیکر:__ سکندر خان! ذرا مختصر کریں ایک اور میٹنگ میں بھی جانا ہے اور۔۔۔۔۔

__جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ:__ Okay Sir, بس Last point ته راروان یم سر۔

__جناب سپیکر:__ میں نے کہا بھی تھا کہ Repetition نہ ہو، بہت سی چیزیں آپ Repeat کر رہے ہیں۔ جی، بسم اللہ۔

__جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ:__ سر، اس کی Repetition میں نے نہیں کی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: جلدی کریں، بس Windup کریں، Windup کریں۔

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: Capital flight چه دے یو بله مسئله ده چه هغه زمونږه دلته کښے کیږی لګیا ده او روزانه د دے ځائے نه چه کوم لوکل خلق هم دی، چه چا ته لږه موقع ملاؤیږی نو هغوی د دے ځائے نه روان دی او دے طرف ته هم توجه ورکول پکار دی او ورسره Brain drain هم کیږی لګیا دے جناب سپیکر، او دے طرف ته که مونږه اوس توجه ورنکړو نو سبا به بیا مونږه ته نور هم مشکلات راځی ځکه چه دا دغه چه موجود نه وی نو سبا به بیا مونږه ترقی څنګه کولے شو؟ سبا ته دا حالات چه نارمل شی نو بیا به مونږه څنګه دلته کښے انډسټری لګوؤ یا نور دغه به کوؤ؟ او دے ټول دغه ته چه مونږه مخامخ کښینو جناب سپیکر، نو زهٔ ډیر افسوس سره وایم چه پراونشل ګورنمنټ اسمبلئ کښے به مونږ ته موجود ښکاری، په سول سیکریټریټ کښے به مونږ ته ښکاری خو Through policies and through actions چه دے، مونږ ته نه ښکاری۔ مونږه ته دا نه ښکاری چه دے مسئلو طرف ته توجه ورکړے کیږی لګیا ده او د هغے د وجے نه جناب سپیکر، نن په عوامو کښے ډیره زیاته مایوسی راغلے ده۔ دا سے حد ته خلق رسیدلی دی چه هغوی دا سوچ کوی چه یره دا صوبه مونږه پریږدو، د دے ځائے نه لاړ شو۔ جناب سپیکر، که دے طرف ته اوس هم توجه ورنکړے شوه نو دا حالات به بیا داسے سټیج ته لاړ شی چه بیا به هیڅ څوک هم ئے نه شی سنبهالولے۔ جناب سپیکر، زهٔ ستاسو مشکور یم چه تاسو ما له موقع راکړه چه ما په بجټ باندے یو څو خبرے اوکړے۔

جناب سپیکر: شکریہ، جی۔ ایک گزارش دوبارہ کرنا چاہتا ہوں کہ جو بھی دوست، معزز رکن بحث کریں گے، بجٹ پر تجاویز دیں گے تو وہ جو معزز اراکین پہلے کر چکے ہوں، انکی Repetition نہ کریں۔ اجلاس کو کل صبح ساڑھے نو بجے تک کیلئے ملتوی کیا جاتا ہے۔

---

(اسمبلی کا اجلاس بروز سنیچر مورخہ 20 جون 2009ء صبح ساڑھے نو بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)